Ketabton.com

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب پېژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

کتاب :: د افشاري استبدادونو پرضد

د افغانانو پاڅونونه.

ليکوال ::کانديد اکاډميسين محمداعظم سيستانی.

ژباړن :: صالح محمد صالح .

مهتمم :: عبدالجبار ترنګ (تُرابي).

خپروونکي :: صحاف نشراتي موْسسه .

چاپکال :: 1380ل/2001م کال.

چاپشمېر :: (1000) ټوکه.

چاپځی :: يونايټېډ پرېس ـ کوټه

کمپوز/ډيزاين :: صحاف کمپيوټر ـ کوټه.

کمپوزر :: په خپله ژباړن.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقریظ

د اتلسمې میلادي پېړۍ په دېرشمو او څلوېښتمو کلونو کې "د افشاري استبدادونو پرضد د افغانانو پاڅونونه" رساله د کاندید اکاډمیسین محمد اعظم سیستاني له ګټورو، علمي او څېړنیزو کارونو څخه دی، چې هم د موضوع ټاکنې له مخې، هم د څګېړنې د څرنګتیا او هم یې د لیکنې او ژبې له مخې په هېواد کې ساری لږ لیدل کېږي.

لیکوال په پیل کې په ختیځ کې د فیوډالي نظام او د هغه د ظالمانه چلند یوځرك راښوولی، وروسته یې د علمي نړۍ لید (جهانبینی) په رڼا کې د نادرافشار فیوډالي دولت بڼه له ټولو ختیزو (شرقي) غوسه ناکو څرنګتیاوو سره په منونکي منطق ارایه کړې ده.

د نړۍ نیولو لپاره د نادر افشار ناپایه حرص، د شتمنیو او پیسو راټولونه، د نیول شویو سیمو د اوسېدونکو لوټونه او له پاڅون کوونکو کسانو څخه غچ اخیستنه، د سرونو یادګاري منارونه او په زور او شکنجو سره د تپل شویو مالیاتو اخیستنه، انسان د (شرقي دسپوتیزم) کلیمې ربښتینې مانا ته رسوي.

سربېره پردې لیکوال د نادرفیوډالي دولت د استبدادونو د ناوړو استفادو پایلې چې غوښتل یې خلك او بېلابېل او نا ورته ملیتونه په زور سره د نېزو په څوکو او د سرونو د منارو په ښودلو په خپله واکمنۍ کې راولي، په پرله پسې دهقاني پاڅونونو کې ښه انځور کړي او ښودلې یې دي، چې د فتحه شویو سیمو خلکو ددې ګټو اخیستنو او ظلم پر وړاندې څنګه غبرګون ښودلی او د ظلم له منګولو څخه د خلاصون په موخه څنګه جنګېدلي دي. تر هغه ځایه چې لیکوال خبر دی، هغه ګڼ شمېر آثار چې تر اوس مهاله د منځنیو پېړیو د تاریخ په هکله کښل شوي، یوازې د افقي پېښو څرګندوی دي او د خلکو د ژوند د اړیکو په اړه لږې څرګندونې په کې شوي، خو ښاغلي سیستاني د تاریخي پېښو د څرګندونې له هماغه پیله بنسټیزو مسایلو ته پاملرنه کړې او هڅه یې کړې چې د ټولو پېښو ترسره کېدنې د ټولو عملونو او غبرګونونو په مقیاس کې وسنجوي، چې د ټولنیزو دښمنو ډلو ترمنځ رواني دي.

لیکوال د کتاب په پای کې د نادر افشار د ظلمونو پرضد د خلکو پاڅونونه او په دغو پاڅونونو کې د هرې ډلې موخې (چې له بده مرغه ډېر پاڅونونه د پاڅون کوونکو له ماتې سره مله وو). په ځیر سره شنلي او ددې ماتو علتونه یې هم جوت کړي دي.

پر دې بنسټ، لیکوال یوازې د صادقانه بیان له مخې د هېواد ددې لنډې خو ارزښتمنې دورې په بیان سره بل مقصد هم لرلی، چې هغه د هدف لرونکي او مسئول انسان په توګه د لوستونکو پوهونه ده.

زه چې ددې لیکوال له ډېرو آثارو سره اشنا یم، ویلای شم چې د ښاغلي سیستاني لیکنې د ایډیالوژیك جوړښت له مخې پاموړ او ارزښتمنې دي او لوستونکي یې د هر اثر تر لوستو وروسته، ټاکلو سیاسي او تاریخي نتایجو ته رسېږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسنی اثر هم ددې هڅاند ليکوال ليکنه ده، سره له دې چې د اتلسمې پېړۍ د دېرشمو او څلوېښتمو کلونو په بهير کې د هېواد ټولنيز، اقتصادي او سياسي حالات څرګندوي، د هغو کارونو څرګندونه هم کوي، چې په ختيځ (شرق کې د نوي سياسي نظم د تشکيل او جوړښت سبب شول او متمرکزو فيوډالي حکومتونو ته د پښتنو عدل غوښتنه هم څرګندوي.

ليکوال ته د بري په هيله دا کتاب يو ګټور او بکر اثر ګڼم او د يوه پوهنيز تيزس په توګه يـې د چاپ وړ ګڼم او د تاريخ مينه والو ته يـې د لوستلو لارښوونه کوم.!

کانديد اکاډميسين ډاکټر اکرم عثمان

10 /11 /1367ل کال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لیکوال سریزه

د منځنیو پېړیو تر ټولو عمده ځانګړتیا دا ده، چې نه یوازې په اروپا او شمالي افریقا کې، بلکې په اسیا او په ځانګړې توګه د نژدې ختیز او منځني ختیځ هېوادونو کې د فیوډالي نظام رامنځته کېدنه او بشپړېدنه پر ځمکو فیوډالي انحصاري مالکیت او د کرګرو او عامو ځمکوالو د استثمار په وسیله له دې ځمکو څخه په ګټو اخیستنې پورې تړلې ده.

فیوډالي نظام چې د ټولنپوهانو په اند د انساني ټولنې بشپړتیا ته یو ضروري پړاو دی او پیدابښت یې پر خپل وار او وخت له نورو تولیدي ځواکونو سره مرسته وکړه، دا یو نظام ګڼل کېږي، چې اصلي پوړونه (طبقات) یې دا دي: لوی ځمکوال او (رعیت) بزګران. چې په هغو کې بیا سیاسي واک د لویو ځمکوالو په لاس کې وي، په دې نظام کې حاکمې طبقې ته (فیوډال) او محکومې ته (رعیت) وایي.

په فیوډالي نظام کې د زبېښاکګرې (فیوډالې) او استثمارېدونکې طبقې (رعیت) ترمنځ طبقاتي مبارزې د ټولنیز ژوند بنسټیز څرنګوالی جوړوي، له همدې کبله په منځنیو پېړیو کې د حاکمو طبقو (لویو ځمکوالو) پرضد د بزګرانو او ښاري تشـلاسو خلکو غورځنګونه ددې دوران له جوتو ځانګړنو څخه دي، چې ډېر طبیعي ښکاري.ځکه په فیوډالي شرایطو کې بزګرانو د ټولنې اصلي برخه جوړوله، چې د حاکمې طبقې (فیوډالو ځمکوالو) په توګه اوسېدل.

د ټولنې نورې کړاوځپلې ډلې، صنعتکاران او کسبګر د فیوډالي دورې په وروستیو کې په خپلواک ډول راوړاندې شولې.

د تاریخ په ګواهي، په ختیځ کې بزګري پاڅونونه تر لویدیځ پراخ او لوی وو. باید وویل شي چې: د اروپایي ټولنې د فیوډالي ظلمونو او ستم له کبله د اروپا دهقاني پاڅونونو ښوارلسمه او پنځلسمه پېړۍ ولړزوله او په شپاړلسمه او اوولسمه پېړیو کې یې نور زور هم وموند او د همدغو پاڅونونو له کبله د اوولسمې پېړۍ په ځلوېښتمو کلونو کې د "بورژوازي" انقلاب زېږی ورکوي.

څرګندګه چې په فیوډالي بهیر کې د افکارو وده، په ټولیز (عمومي) ډول د مذهبي معتقداتو په لیکه کې وي، له دې کبله په ټولو منځنیو پېړیو کې دهقاني پاڅونونه ځان ته مذهبي بڼه غوره کوي او په ټولنه کې د مذهب او سلك په جامه کې ژور ټولنیز تضادونه زیاتوي.

په ختیځ، په ځانګړې د منځني ختیځ په هېوادونو: افغانستان، ایران، ماورالنهر او بین النهرین کې دهقاني پاڅونونو د مذهب په جامه کې ټولنیز تضادونه زېږول، لکه: د ابومسلم خراساني غورځنګ، سنبادګبر غورځنګ، د استادسیس بادغیسي او حریش سیستاني غورځنګ، د یوسف البرم او خراساني غورځـنګ، د حکیم مقنع بلخي په مشرۍ د خراسان د سپینو جامو اغوستونکو غورځنګ، د حضین سیستاني غورځنګ، د آذرویه مجوسي او محمد ابن شداد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیستاني غورځنګ، د بوعاصم بستي پاڅون، د آذرك سیستاني د زوی وتل، په آذربایيجان کې د عربو د واکمنۍ پرضد د بابك خرم دین پاڅون او د مغلو او سیمه ییزو فیوډالانو پرضد د خراسان د مشرانو پاڅون او د صفوي واکمنۍ پرضد د میرویس هوتك په مشرۍ د کندهار د خلکو پاڅون، د هند د ګورګیانو د سیاسي واکمنۍ پرضد د روښانیانو غورځنګ او داسې نور په لسګونو کرګري پاڅونونه چې زموږ په هېواد او ختیځ کې یې د فیوډالیزم په هر پړاو کې بدلونونه رامنځته کړي چې په پای کې یې فیوډالي نظام له نېستۍ سره مخامخ کړ.

په ټولو ځایونو کې ددې پاڅونونو لوی علت فیوډالي ګټې یانې مالیات، نورې نیمګړتیاوې، فشارونه او شکنجې دي، چې کله کله به دا فشارونه بزګرانو ته په غوڅ ډول د زغم وړ نه وو، کلیوالو به د اړتیا له مخې خپل کورونه او کروندې خوشې کولې او غرونو، دښتو یا هم ښارونو ته به یې پناه وړله، خو هلته یې هم هوسایي نه لیده.

حجاج بن یوسف ثقفي (75 _95هـ) د اموي خلیفه عبدالملك ابن مروان په واکمنۍ کې تر ټولو ظالم او د خلافت، ختیزو هېوادونو د کلیوالو او بزګرانو د لېږدونې لامل و، چې دې خلکو د مالیاتو اخیستونکو مامورانو د شکنجو او زور زیاتي له کبله یې خپلې کروندې خوشې کړې او ښارونو ته یې مخه کړې وه، ده به دا خلك " د ټولنې طفاله" او "پردي وحشیان" بلل او له ښاره یې د بېرته ایستلو فرمان ورکاوه او خپلو لومړنیو ځایونو ته یې لېږدول، د پېژندنې په ډول به ددې تښتېدلو کلیوالو پر لاسونو یا غاړو یوه ټاپه لګول کېده، چې په هغې کې به د ځای نوم او د جزیې بیا اخیستنه د جریمې په ډول یادېده، چې دا کار مسلمانو بزګرانو ته ډېر توهینوونکی تمامېده(*).

په دې توګه زموږ د تاریخ ډېره برخه په فیوډالي دوران کې د فیوډالانو د ستم په مقابل کې د فیوډالي ګټو د فشارونو له کبله غرونو او دښتو ته د کلیوالو او بزګرانو د ډله ییزې او جلا جلا تېښتې له کیسو څخه ډکه ده، که څه هم دا منفي غبرګون په فیوډالي پېر (عصر) کې ډېر تکرار شو، خو اخر پرخپله بڼه پاتې نه شو، وده یې وکړه او په کرګري پاڅونونو واوښت.

لومړني کرګري پاڅونونه تیت و پرك وو، چې وروسته یې لږ - لږ یووالی موند، دا پاڅونونه خپلسري وو، هیڅ ډول لارښود پروګرام او تیوري یې نه درلوده، په دې توګه د بېلابېلو مذهبونو او ډلو تر بیرغ لاندې راتلل.

په بزګرانو کې به معمولاً نارضایتي او بغاوت ورو - ورو یوځای کېدل او کله چې به یې زغم پایته رسېده، نو د حکومتي مامورینو د یوه ظالمانه چلند په پلمه به یې غوسه راپارېده او د خپلسري پاڅون سبب به ګرځېده.

څرنګګه چې کرګري پاڅونونو کوم ځانګړی هدف او نظم نه درلود او نه به هم ورته یوه ټاکلې کړنلار جوړېده، نو له دې کبله به نه بریالي کېدل.

کله چې به په نسبي ډول کوم پاڅګون بري ته رسېده او د څه مودې لپاره به یې حکومت هم ترلاسه کاوه، نو د لنډې مودې لپاره به یې نوی نظم هم جوړاوه. خو دا نوی نظام به ډېر ژر لیرې کېده او په مستقیم او نامستقیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول به فیوډالي اړیکي بیا ژوندي کېدل، یا به سیمه ییزو فیوډالانو حکومت پر بل مخ اړاوه او یا به هم د کرګرانو استازي چې حکومت به یې په لاس کې و، په فیوډالانو بدلېدل. یوه نوي ټولنیز نظم د پېژندنې پر بنسټ یوې کړنلار ته اړتیا درلوده، خو دا پېژندګلوي د بزګرانو له خوا نه شوه ترسره کېدای.

د کرګري پاڅونونو پاشلتیا او پروګرام نه درلودل، همداراز له یوې ټولنیزې او علمي خبرتیا څخه د دوی بې برخوالی به ددې سببېده چې واړه سیمه ییز فیوډالان له مرکزه د ځان خپلواکولو او پر ګاونډیو د برې لپاره له دغو پاڅونونو څخه کار واخلي. ډېر کرګران به هم د خپلې کمزورۍ له کبله دې سیمه ییزو فیوډالي مشرانو ته تسلیمېدل.

کله به دوی له سیمه ییزو فیوډالانو څخه غوښتل چې د پاڅون مشري پر غاړه واخلي، ددې ډول پاڅونونو ماتې او بري سره ډېر توپیر نه درلود.

کرګري پاڅونونه باید حتماً د پوهې طبقې د استفادې وړ ګرځېدای. کله به د ښارونو کسبګرو هم په دغو پاڅونونو کې ګډون کاوه، چې په دغو پاڅونونو کې ددوبګډون ددې غورځنګونو د پوهونې او یووالي سببېده.

لنډه دا چې کرګري غورځنګونه په ختیځ او لویدیځ کې د منځګنیو پېړیو تاریخي بهیر مشخصوي او د فیوډالیزم په بدلون، بشپړتیا او انحطاط کې ددغو پاڅونونو اغېزې تر نورو ښاري خواریکښو ډلو په ضمني ډول دا تاریخي حقیقت تاییدوي، چې د ملت یوه برخه یانې خواریکښې طبقې د تاریخ رښتینې جوړوونکې دي.

په دې توګه، کرګري غورځنګونه د فیوډالي نظام له بنسټیزو مشخصو څخه دي، چې د یوه ټولنیز _ اقتصادي فرماسیون په توګه یې د بشري تاریخ له زرو زیات کلونه ونیول، د ځینو اسیایي او افریقایي هېوادونو په تېره زموږ د هېواد یو زر او پنځه سوه کلونه یې ونیول، خو ځرنګوالی یې په ټولو ځایونو کې یو ډول نه و، ځکه هر هېواد او د هېوادونو هرې ډلې بېلابېلې فیوډالي ځانګړنې لرلې.

کاندید اکاډمیسین محمد اعظم سیستانی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژباړن یادښت

د نادرافشار پرضد د افغانانو پاڅونونه زموږ د هېوادني تاریخ یو داسې باب دی، چې لوستل یې هر هېوادمیني او هېوادپال افغان ته د دې ډول استبدادونو په وړاندې ویښ شعور ورپه برخه کوي، ځکه په دې پاڅونونو کې موږ ته څرګندېږي چې سیمه ییز فیوډالان له ولسي خلکو سره په څه بڼه یو کېږي او بیا چې کله د نادري پوځ ګواښګونه یا هم مادي امتیازونه ویني، نو له خوارو ولسي خلکو سره خیانت ته ملاوې تړي او په دې توګه د دوی دا کار د فیوډالي ښکېلاک او زبېښاک کرکجنه بڼه په ښه ډول انځوروي.

په دې جګړو او کشالو کې د نادر ناپایه حرص او د هېوادونو د خپلونې اورنی څرك هم ترسترګو کېږي، چې غوښتل یې په خپلو استبدادونو او ظلمونو سره د سیمې ټول هېوادونه په خپلې واکمنۍ پورې اړوند کړي. هغه کموسو او بګېوسو کلیوالو او سیمه ییزو خلکو ته د سرونو د منارو په ښوولو دا هیله لرله چې ټول خلك به یې په پوځ کې ورګډ شي او د ده غلامۍ او چوپړ ته به غاړه کښېږدي .

خو کله چې د پاڅونونو لړۍ پیلېږي دا اور دومره پراخېږي چې د ده د واکمنۍ تر لمنو هم غزېږي. په دې توګه: کله چې به نادر په یوه سیمه کې د پاڅون په غلي کولو او ځپلو بوخت شو، د بلې سیمې د بغاوت خبر به یې زړه او دماغ ولړزاوه. هغه د ژوند تر پایه له دې پاڅونونو خلاص نه شو. بلکې دا لړلی ارمان یې هم له ځان سره ګور ته یووړ، چې غوښتل یې د خپل حکومت بیرغونه د هر نیول شوي هېواد په پلازمېنه کې اوچت وساتي؛ په دې لنډ کتاب کې یې د ډېرو نادودو او د وياړلو افغانانو د مبارزو انځورګري شوې ده. لیکوال هم د ناپییلتوب پر بنسټ دغه پېښې رااخیستي او هڅه یې کړې چې خلکو ته حقیقت په رښتینې بڼه وښیي.

د کتاب د آر نوم بشپړه ژباړه (د اتلسمې میلادي پېړۍ په دېرشمو او څلوېښتمو کلونو کې د نادر افشار د استبدادونو پرضد د افغانانو پاڅونونه) کېده، ځینو ملګرو له لنډون څخه په کار اخیستو ورته لاندېنی نوم (د افشاري استبدادونو پرضد د افغانانو پاڅونونه) غوره کړ، هیله ده بشپړ جاج وښندي او له موضوع څخه ډېر لیرې نه وي. په تلو - تلو کې له تاند شاعر او لیکوال ښاغلي عبدالجبار ترنګ (تُرابي) څخه یوه دنیا مننه کوم چې د مسافرۍ پر ستونزمنو شرایطو سر ببره یې د دې ژباړې په سمون (تصحیح) کې راسره بشپړه مرسته وکړه؛ همدا راز د صحاف نشراتي مؤسسې له مشر، درانه دوست حمدالله صحاف څخه هم ډېره مننه کوم، چې ددې ژباړې چاپ لګښت ته یې اوږه ورکړه او د چاپ چارې یې په مینه مینه ترسره کړې. دوی ته یوځل بیا کورودانی وایم.

په ادب

صـــالـــح مـــحـــمـــد صـــالـــح

/1380لیندۍ/ 19 ل کال

کـــــــوټـــــــــه - کاسي واټ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړۍ څپرکی (د نادرشاه افشار د فیوډالي دولت بڼه)

نـــادر د واك پـه جــوش کــې:

د اتلسمې پېړۍ څلورمې او پنځمې لسیزې د نادرشاه افشار د واکمنۍ له مهال سره برابرې دي، هغه دوران چې له فیوډالي وحشیانه ګټه اخیستنو، لوټونو او د خلکو له نېغ چپاو، مالیاتي او ملي ستم، غوسه ناکو ځورونو او نورو ورانوونکو او وحشتناکو وژنو سره مل و.

آذربایجان، ایران، ارمنستان، افغانستان، هند، منځنۍ اسیا او ګرجستان په خپل تاریخ کې تر تېمور وروسته داسې دوره په یاد نه لري.

نادر افشار چې د اتلسمې پېړۍ د لومړۍ نیمایي د ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي عواملو زېږنده و، د همدې پېړۍ د دویمې ربعې له پیله د افغانانو او ترکانو پرضد د ایراني خلکو په پاڅونونو کې په مستقیم او فعال ګډون سره خپل استعداد وځلاوه او په ایرانیانو کې یې له ایران څخه د یرغلګرو په وتلو سره ملي نوم وموند.

له شك پرته، نادر د خپلو سیاسي فعالیتونو له پیله حریصانه هدفونه درلودل، خو د پردیو یرغلګرو په ایستلو سره یې په ایرانیانو کې اعتبار او نفوذ ډېر شو، همدا ټکی سبب شو چې په 1737م کال یې په مغان دښته کې د اووه کسیزې فیوډالي شورا په تشکیل کې دتاج کښېګښودنې کومېټې ترسره کړه او تر هغه وروسته یې د نادرشاه په توګه د ایران پر سلطنتي تخت تکیه ووهله.)1(

د نادرشاه حکومت نظامي فیوډالي استبداد یوه بېلګه وه، چې د پاچا حاکمیت کومه پوله نه پېژنده، د شاه سلطنتي شورا چې له لوی وزیر، قورچیباشي، قولرآقاباشي، اېشیك اقاسي باشي، تفنګچي باشي، دېوان بېګي او د لیکنو له وکیل څخه جوړېده، د صفوي شاهانو پر مهال یې هم وجود درلود. نه یوازې یې ډېر واك نه درلود، بلکې نادر د پاچایۍ په هماغه پیل کې ددې ټکي په څرګندولو سره چې (غواړي له کوم شریك پرته حکومت وکړي) دا شورا په عمل کې له منځه یووړه.)2(

نادر د هغو یرغلیزو جګړو په نتیجه کې چې د اتلسمې پېړۍ په څلورمو او پنځمو لسیزو کې یې ترسره کړې، ونه شول کړای ارمنستان، ګرجستان، آذربایجان او د خېوې او بخارا خان مېشتې سیمې، د منځنۍ اسیا، افغانستان، بلوچستان او د مغولي هندوستان ټول شمال غربي ولایتونه او خان مېشتې سیمې په خپل دولت کې ګډې کړي.

ددې هېوادونو ځینې برخې د نادرشاه د دولت په ایالتونو بدلې شوې وې، نورې پاتې هغه هم د (واسالي) هېوادونو په توګه اداره کېدلې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نادرشاه دولت د ناپایداره نظامي فیوډالیزم اتحاد و، چې په هغه کې اقتصادي ژوند، خلك او هېوادونه نه سره تړل، هېوادونه او خلك چې د تېر تاریخ او فرهنګ له مخې یې یو له بله توپیر درلود. په زور، مړینې او غوسه ییزو چلندونو سره تړل شوي وو، د یوه فیوډالي دولت په اډانه کې د بېلابېلو هېوادونو مصنوعي پیوند: د پردیو د توند ستم، د بېرحمانه فیوډالي استثمار، مذهبي ځارنو او خونړیو استبدادونو سبب شوی و.

همدغه عمده لاملونه وو چې په نیول شویو هېوادونو کې یې د خپلواکۍ مبارزې وپارولې، دغو مبارزو د نوموړو هېوادونو پر تولیدي ځواکونو ژور منفي اغېز وښانده او د هغوی فرهنګي او اقتصادي بهیرونه یې ودرول.(3)

د نادر اقتصادي سیاست او پرضد یې د خلکو راپاربدنې:

"نادر په داسې حال کې چې په خپل ټول ځواك یې خپل حکومت ځواکمناوه، د سیمه ییزو نظامي مشرانو حقوق یې محدود کړل او سلطنتي او دولتي ځمکې یې (له فیوډالانو څخه د دولت له خوا د ورسپارل شویو ځمکو په اخیستنو) سره زیاتې کړې، هغه د نظامي مشرانو او لوړ پوړو مامورینو د سیاسي او اقتصادي موقعیت او نفوذ د کمزورولو او په مرکز پورې یې د تړلو لپاره د "شیعي" روحانیت لوړ قشر متزلزل کړ، همداراز دغو یرغلیزو جګړو به چې بزګران یې تباه کول، د فیوډالانو پانګه په خپل وار کموله، د حاکمې طبقې ډېره برخه چې د نادر له سیاسته ناخوښه وه. (په کراره) د هغه پر مخالفې ډلې بدله شوه)".(4)

خو خلك هماغسې دتېر په څېر بې حقوقه او د مالیاتو ورکوونکو په سیمو پورې تړلي وو او نه یې شول کولای چې په آزاد ډول خپل استوګنځي پرېږدي، دوی به غالباً د نادر په فرمان بېلابېلو سیمو ته کوچېدل.(5)

د نادر د حکومت اقتصادي بنسټ د نورو فیوډالي ټولنو په شان کوچني کرګري واحدونه او د کسبګرو لږ تولید و.

د بوروکراسۍ لویه دستګاه او څو لس زره کسیز ګوند چې د دولتي ځمکو د ډېرېدو او پر له پسې جګړو له کبله زیات شوی و، په خپل ټول درونداوالي سره د خلکو ، په ځانګړي ډول د بزګرانو پر اوږو فشار وارداوه او د هغوی لپاره ساتل کېده. د بزګرانو لپاره تر ټولو سخت کار د خوراکي موادو، وښو، جامو او جګړه ییزو وسیلو برابرول وو، دا مالیات به هرځل زیاتېدل او کله کله به دا درانه مالیات د سپاهیانو له خوا ټاکل کېدل او اخیستل کېدل.

خلك، په ځانګړي ډول بزګران چې په پیل کې یې له نادر سره د پردیو یرغلګرو پرضد مبارزه کې مرسته کړې وه او بیا یې د سلطنت پر تخت کښېناوه، هیله من وو چې له خپل هېواد څخه به یې د پردیو په ایستلو سره په مالیاتو کې کمی راشي او ژوند به یې ښه شي، خو پر یرغلګرو د ایرانیانو په بري سره نادرشاه او صفوي طهماسب نه یوازې مالیات ټیټ نه کړل، بلکې برعکس یې ناټکل شوي بېلابېل باج و خراج هم وضعه کړل او لښکرو ته یې د خوړو برابرول هم ورزیات کړل .

په دې توګه کرګري اقتصاد زیانمن شو او پر نېستمنو بزګرانو بېرحمانه فشار راغی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نادر پر کندهار د لښکرکښۍ پر مهال په کرمان ولایت کې د مالیاتو په راټولونه کې دومره زیاتی وکړ، چې دا ایالت تر اتو کلونو پورې له قحطۍ سره لاس و گریوان و. یوازې لوږه ددې سیمو بدمرغي نه وه، بلکې د باروړونکو حیواناتو او څارویو د نشت له کبله د کرمان ولایت ښځې او نارینه اړ شول چې د نادر اتیازره کسیز لښکر ته له سیستان څخه غلې دانې ولېږدوي).6(

د نادر یرغلیز سیاست د دولت له خوا د ناوړه گټه اخیستنې، د بې حسابه مالیاتو د اخیستنې او د بزگرانو د مالونو د لېږدونې او د کورونو د ورانۍ سبب شو او دا کار د نادري دولت د ظمونو پرضد د خلکو د بې ځنډه پاڅونونو لامل شو.

عام وگړي له خپلو استوگنځیو څخه وتښتېدل او له مالیاتو ورکولو څخه یې ډډه وکړه، همدا راز د خپلواکۍ لپاره ملي پاڅونونه هم وشول. د اتلسمې پېړۍ په پنځمه لسیزه کې هغه هېوادونه چې په زوره د نادر په دولت پورې تړل شوي وو، له لوی پاڅون سره مخامخ شول، ان د اتلسمې پېړۍ د څلورمې لسیزې له پیله د فیوډالي گټه اخیستنې پرضد په ډېرو سیمو کې د خلکو مبارزې څرگندې شوې.

ددې دورې له سرچینو څخه ښکاري، چې بزگران او کوچي خلك به چې د ملاماتوونکو او ورانوونکو مالیاتو تر فشار لاندې کمزوري شوي وو، دخپلو استوگنځیو تر پرېښودلو وروسته د نورو سیمو له پاڅون کوونکو سره یو کېدل او یا به په غرونو کې پټېدل او لاروهونکې ډلې به یې جوړولې).7(

د "عالم ارای نادري" نومي کتاب لیکوال کاږي: په 1150 هـ 1737-1738م کلونو کې مرو ایالت (د بندیانو د زړونو په شان) تش او غلی و. هلته نه کوم کور پاتې و، نه هم سړی).8(

همدغه لیکوال په بل ځای کې وایي: کله چې علیقلي خان د سیستان د پاڅون د ځپلو لپاره (1746-1747م) کال سیستان ته ننوځي، په حیرانۍ سرهویني چې: کلي او ښارونه له خلکو تش دي.

ځکه ډېرو خلکو د شاه د درنو مالیاتو له کبله خواجه نومي غره او کلیو ته پناه وړې وه).9(

د نادري حکومت د مالیاتي ستم پرضد یوه مبارزه له (دروغو مدعیانو) څخه د خلکو ملاتړ و، ددې دورې په سرچینو کې له (دروغو) مدعیانو څخه میرزا زینل، اصلان میرزا، صفي میرزا او نور د اتلسمې پېړۍ په څلورمو او پنځمو لسیزو کې یاد شوي دي).1(

په افغانانو، ازبکانو، ترکمنانو، بلوڅانو، گرجیانو او ارمنیانو کې ملي او استبدادضد لومړني پاڅونونه زیات شول. ځکه دا خلك په ډېر بد حالت کې وو. دوی د سیمه ییزو فیوډالانو له خوا استثمارېدل او د نادر د دولت له خوا ځورول کېدل او تر مذهبي څگـارنو لاندې راتلل.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نادر پرضد د افغان فیوډال قشر لومړنی خپلواکۍ غوښتونکی پاڅون په هرات کې د ذوالفقارخان ابدالي په مشرۍ په 1730-1731م (1143هـ) کې ترسره شو.

وروسته د ترکمنو، تکه وو، ساروقو، ایرسارو او نورو قبیلو له خوا په خراسان کې په 1734م کال او په همدې کال نور پاڅونونه هم ترسره شول).11(

د مالیاتي ستم له کبله د کرمان خوځښت په 1733 کال په یوه لوی پاڅون بدل شو، په همدې کال د همدې سیمې "لارو" خلك هم اوچت شول او ددې ایالت حاکم محمدخان یې وواژه، په قزوین او ګیلان کې هم پاڅونونه وشول. پر ورو پاڅونونو سربېره په فارس او د فارس خلیج په ساحلونو کې هم په 1733م کال یو لوی پاڅون پیل شو، چې مشري یې د شیخ احمد مدني پر غاړه وه، چې شلو زرو سُني مذهبو عربانو یې ملاتړ کاوه.

په همدې کال د بلوچستان له فیوډالانو څخه یو تن محمدخان بلوڅ د خلیج له پنځګـلسو زرو بلوڅو سره د (آو) قوم له ملاتړ څخه برخمن شو، دوی د خلیج له خولې د هند تر پولو غزېدلي وو).12(

د 1734م کال په پای کې د ملي پاڅون د مشرانو: شیخ احمد او وروسته محمدخان بلوڅ په نیول کېدو سره دا پاڅون سره وپاشل شو).13(

نادر، فیوډالي پاڅونونو ته دومره په اندېښنه کې و، چې کندهار ته یې تر لښکرکښۍ وړاندې په ایران کې خپل زوی رضاقلي میرزا قایمقام ته لارښوونه وکړه چې :"یو بشپړ لښکر تیار کړي او له ځان سره یې وساتي، داسې لښکر چې د یوې میاشتې په موده کې هر ښار ته حاضر شي)."14(

تر هغه مهاله چې نادر له یرغلګرو څخه د ایران د خپلواکۍ لپاره جنګېده، نو د ایران ملت یې هم د زړه له کومې ملاتړ کاوه او هر ډول قربانۍ ته چمتو و، خو کله چې ایرانیانو له خپلو پولو یرغلګر ترشا کړل او خپله ټوله سیمه یې خپله کړه او نادر یوازې د خپلې سیمې د پراختیا په هوس جنګېده، ښکاره خبره ده چې خلك دې ډول ناعادلانه جګړو ته چمتو نه وو، بلکې هیله یې درلوده چې ډېر ژر یې هېواد ته سوله راشي، چې وکړای شي په ډاډه زړه خپلو اقتصادي او کرګري چارو ته دوام ورکړي.

خو نادر چې کله د ایران پر سلطنتي تخت تکیه ووهله، سره له دې چې د هرات او ترکیې له ابدالیانو او هغو هوتکیانو سره چې پر ایران واکمن شوي وو جګړې روانې وې او ایران یې ډېر نېستمن او وران کړی و، نادر ورځ په ورځ د سیمې د پراختیا په هوس د مالیاتو پر څومره والي او د هغو پر اصولو سختۍ زیاتې کړې.

د "نادرشاه" نومي کتاب لیکوال لکهارت د نادر له ستاینې سره سره د هغه د یرغلیز سیاست په اړه لیکي :"نادر د عامو خلکو ښه والي ته پاملرنه نه درلوده، یوازې یې د خپلې امپراتورۍ پراختیا ته پام و او د هېواد خلکو ته یې یوازې ددې لپاره پاملرنه کوله چې پیسې او نورې اړتیاوې ترې لاسته راوړي، کله چې یې د ایران پر سلطنت تکیه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووهله، د هرات له عثمانيانو، ابداليانو او هوتكيانو سره "پر ايران تر تسلط وروسته" اوږدو جګړو خلك ډېر نېستمن كړي وو.

سره له دې چې نادر د هندوستان له فتحې څخه له مليونونو تومانونو سره راستون شو او كولای يې شول ډېر كلونه د ايران خلك له مالياتو معاف كړي، خو هغه خپلې ډېرې پيسې بېځايه ولګولې (البته تر مړينې وروسته) او د مالياتو وضعه يې نوره هم تونده كړه، بزګران او كليوال خلك د مالياتو او نادر ته د جګړه ييز ځواك برابرولو له لاسه پر ملا مات شوي او په تنګ شوي وو.

د حيرانۍ خبره ده: داسې تېزهوښه سړی څنګه پوه نه شو، په خپلو دغو كارونو هغه مرغه چې د سرو زرو هګۍ اچوي له منځه وړي؟)"15(

هو! دا مرغه چې (د سرو زرو هګۍ) يې اچولې، هغه ملت و، چې پرته له دې چې د (شاه) له لاسه ارامه ساه واخلي، د سرونو او مال په قربانۍ سره يې له نادرقلي څخه نادرشاه جوړ كړ.

د نادر د درنو مالياتو د فشار او پر له پسې جګړو له كبله تشلاسي بزګران اړ شول چې دده د سياست او واكمنۍ پرضد له هرې څنډې د نيوكې اوازونه اوچت كړي.

د نادر تالانګرې لښكركښۍ چې غوښتل يې د فيوډالي طبقې د پانګې لړوالی، چې د بزګري توليدي واحدونو د پاشلتيا له كبله رامنځته شوی و، جبران كړي، چې دا دده د هېواد د اقتصادي پاشلتيا سبب شو).16(

د نادر بريمنو جګړو چې ډېر لګښتونه وربانديې راتلل، د خواريكښو پراخ قشرونه خوارول. په زور سره د بېلابېلو خلكو اېلول او پر هغو حكومت كول، له خواريكښو سره زياتی، وحشتناك ترورونه، د خلكو د خپلواكۍ غوښتنې مبارزې: د ايران او ګاونډيو هېوادونو د توليدي ځواكونو د زوال سبب شوې.

نادر د اتلسمې پېړۍ د پنځمې لسيزې له پيله تر هغه مهاله چې ووژل شو(1747م كال د جون نهمه) په خپله ټوله سيمه كې يوه ورځ هم د خپل غوسه پاروونكي سياست پرضد د خلكو له پاڅونونو او مقابلو څخه وزګار نه شو، دې كار يې پر اعصابو او اروايي وضعې ډېر فشار راوړ.

څرنګګه چې د خپل سلطنت په پای كې په توند فكري اختلال اخته شو، په دې توګه يې خپل چلند نور هم توند كړ او د لوړرتبه مامورينو وژلو او بندي كولو ته يې زور وركړ.

ان د نادر نژدې خپلوان هم د (ذاتي مينې) له كبله له پاڅون كوونكو سره يووالي ته چمتو شول، په سيستان كې به د نادر د وراره عليقلي خان اردوځای ته خلك راتلل، د نادر د وحشت پاروونكو اقداماتو په اړه به يې ورته خبرونه راوړل، كله چې عليقلي خبر شو د ورور ابراهيم خان مالونه يې ضبط شوي او پر ده باندې هم سل زره تومانه ماليات

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وضعه شوي دي. نو تصميم يې ونيو د سيستان له پاځون كوونكو سره يو شي. د هغې وېرې او وحشت پرضد چې نادر هرځاى خپور كړى و، د ايران، بلوچستان، افغانستان، مرو، خبوشان او د نورو ځايونو خلكو پاځون وكړ.

د لومړي څپركي سرچينې:

.1دولت نادرشاه افشار: د م. ر. ارونووا. ك. ز اشرافيان ليكنه د حميد مومني ژباړه، د تهران پوهنتون چاپ، 1352ل كال، 66 مخ. تاريخ نادرشاهي: محمدشريف تهراني وارد، د رضا شعباني په زيار، 1349ل كال، تهران، 67 مخ.

.2دولت نادرشاه افشار: 115 مخ.

.3همدغه اثر: 213 � 307 مخونه.

303 : // .4مخ.

167 � 166 : // .5مخونه.

.6لكهارت، نادرشاه: د مشفق همداني ژباړه، تهران چاپ، 1331ل كال، 156-159 مخونه.

.7دولت نادرشاه افشار: 165-167 مخونه.

.8محمد كاظم: نامه عالم اراى نادري، لومړى ټوك، 1962م كال چاپ، مسكو، تر 68 مخ وروسته. دولت نادرشاه افشار:166 مخ.

.9محمد كاظم: همدا اثر، درېيم ټوك، 1966م كال، چاپ، مسكو 466مخ.

.10مهدي خان استرآبادي: جهانكشاى نادري، د عبدالله انوار په زيار، 1342ل كال چاپ، تهران، 21 � 25 مخونه. دولت نادرشاه افشار: 169 مخ.

.11دولت نادرشاه افشار: 170- 171 مخونه. محمدكاظم: لومړى ټوك، 232 � 241- 247 مخونه.

.12همدا اثر: 171 � 172 مخونه .

177 � 172 : // .13مخونه. نادرنامه (تاريخ شاهنشاهي) 31-39 مخونه.

.14دولت نادرشاه افشار: 179 مخ.

.15لكهارت: نادرشاه، 237 مخ.

.16دولت نادرشاه افشار: 288مخ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دویم څپرکی (پر افغانستان د نادر افشار لښکرکښی)

د خـراسـان د پـاڅونونو ځپـل او د هرات خـلاصـون:

که څه هم د نادر له خوا د مشهد خلاصون، شازاده طهماسب د نادر تر اغېز لاندې راوست، خو په بدل کې یې د نادر پرضد د هغه د وزیرانو دښمني راوپاروله او هغوی به له لږ فرصت څخه هم د شازاده د ذهن پارولو لپاره کار اخیسته، اخر یې شازاده اړ کړ چې خپلو حاکمانو ته د استرآباد په ګورګانو، مازندرانو او نورو سیمو کې لارښوونه وکړي چې د نادر پرضد د هغوی مرستندوی شي، ان ځینې تاریخ کښونکي کاږي چې د نادر پرضد یې د محمود کیاني مرسته هم جلب کړه.

ملك محمود سیستاني (لومړنی سیمه ییز واکمن) چې کله په (1722م) کال کې ولیدل چې خلکو په هرات او کندهار کې پاڅون کړی او له صفوي دولت څخه یې خپله خپلواکي ترلاسه کړې، همداراز شاه محمود هوتك هم د ایران تر زړه پورې پرمخ تللی دی، نو هغه هم د صفوي دولت پرضد اوچت شو او د اوسني خراسان ولایتونه یې د صفویانو له شتون څخه پاك کړل او په خراسان او سیستان کې یې خپل خپلواك حکومت اعلان کړ. خو په خراسان کې تر پنځه کلن دولت وروسته د نادر له پاڅون سره مخامخ شو، ځکه نادر یو وخت د ملك محمود له لاسه یوه څپېړه خوړلې وه او له دندې شړل شوی و، د شازاده طهماسب په نوم یې پر مشهد برید کړی و، تر مشهد دباندې یې تر سختو خونړیو جګړو وروسته له نادر څخه ماتې وخوړه او تسلیم شو، نادر د طهماسب میرزا په شفاعت هغه د مشهد روضې یو ګوښه نشین کړ او د هغه ټول کارونه یې ترڅارنې لاندې ونیول.

پر همدې مهال د کُردان په خبوشان کې د نادر پرضد اوچت شول، خو نادر هغه وځپل، شازاده اړ شو چې له نادر سره په نرمۍ چلند وکړي او په هغه پسې مشهد ته روان شي. نادر د 1139 هـ (1727م د مارچ 21مه) په نوروز کې مشهد ته د طهماسب میرزا د راتلو تود هرکلی وکړ او امر یې وکړ چې ددې خوښۍ له کبله دې یوه اوونۍ په ښار کې مجلسونه او جشنونه جوړ شي، د طهماسب میرزا د هرکلي مراسم پایته نه وو رسېدلي، چې کردانو بیا د پاڅونونو بیرغونه اوچت کړل، چې د مرو تاتاران او ترکمنان هم ورسره یو شول او یو لوی ځواك یې جوړ کړ. د نادر ورور ابراهیم خان یې په خبوشان کې محاصره کړ .

دغه پاڅون د نادر له خوا غلی کړای شو، خو نادر چې کله مشهد ته راستون شو، د خبوشان د پاڅون اور بیا بل شو. ځینې تاریخ کښونکي په دې اند دي چې دغه پاڅون د طهماسب میرزا په هڅونه ترسره شو او د ساعدلو کردان هم د "کوکرلو" له پاڅون کوونکو سره یو شول. خو نادر ډېر ژر ددې پاڅون مخنیوی وکړ او د نیشاپور پر لوري روان شو. پر همدې مهال د مرو تاتاریانو هم د ملك محمود کیاني په هڅونه په شورش لاس پورې کړ، خو نادر ډېر ژر ددې پاڅون اور مړ کړ او مشهد ته راستون شو، څرګندګه چې د مرو د تاتاریانو په هڅونه کې د ملك محمودکیاني

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر لاس درلودو پوهېدلی و، نو هغه یې له ورونو: ملك محمدعلي او وراره ملك اسحق سره یوځای د 1727م کال د فبرورۍ په 27 مه یا د مارچ پر لسمه ووژل.(1)

میرزا مهدي خان لیکي: محمدخان چوله د همایون (نادر) په امر "ملك محمود" د محمدبیگ میناباشي چوله د وینې په قصاص چې د ملك محمود د ظلمونو له مرو شویو کسانو څخه و، ملك اسحق یې یاسا ته ورساه او ملك محمد علي یې چې د ملك محمود کوچنی ورور و، نیشاپور ته بهرام علیخان بیات ته ولېږه، هغه هم د خپل ورور فتح علیخان د وینې په بدل کې دا انتقام واخیست.(2)

لنډه دا چې ځـګرنـګګه به په یوه سیمه کې یو پاڅون غلی کېده، بل ځای به یو بل پاڅون پیدا کېده. (د مشهد ښار د جنوب په درې سوه پنځوس کیلومترۍ) قاین ښار کې د ملك محمود سیستاني تر وژنې وروسته خلکو پر پاڅونونو لاس پورې کړ او د نادر کسان یې له ښاره وایستل. حسین سلطاني چې د ملك محمود له خپلوانو او له سیستاني مشرانو څخه و، د ملك محمود د ورور "ملك کلبعلي" او د ملك محمود وراره ملك لطف علي په ملاتړ یې ددې پاڅون مشري پرغاړه درلوده. نادر د دې پاڅون د ځپلو لپاره د خپل پوځ یوه برخه ورولېږله، خو هغې هېڅ هم ونه کړای شو. نادر اړ شو چې له طهماسب میرزا سره مل د 1139 هـ کال د ذي الحجې په 17 مه (د 1727 م کال د اګست په پنځمه) له اتو سوو پوځیانو سره له مشهده د قاین پر لوري روان شي. د قاین د پاڅون مشران تر څه مقاومت وروسته غلي شول، حسین سلطان تسلیم شو، خو ملك کلبعلي او ملك لطف علي نادر ته تسلیم نه شول. دوی دواړه وتښتېدل او په اصفهان کې له شاه اشرف هوتك سره یو شول.(3)

ویل کېږي چې د ملك محمود سیستاني زوی فتح علیخان او وراره لطف علي کیاني اووه کاله د سیستان په خواجه نومي غره کې د نادر د ځواکونو پرضد مقاومت وکړ.(4)

نادر چې لیدل یې شاه اشرف د ایران په شمال کې له ترکیې او روسیې سره پر جګړو بوخت دی او هم د کندهار او هرات خپلواك حکومتونه سره لیرې او بېل ژوند کوي او په هغو کې پخوانۍ دښمني هم شته، نو د افغان حکومتونو له دې کورنیو اختلافونو څخه یې ګټه واخیسته او د شاه طهماسب په ملتیا یې پر هرات برید وکړ. په لومړي ګام کې یې سنګان او بهدادین کلاوې چې اوسېدونکي یې د هرات د ابدالیانو له ځانګې وو، محاصره کړې. د سنګان اوسېدونکو سخت مقاومت پیل کړ. نادر ددې مقاومت له کبله دومره په غوسه شو چې د سنګان کلا تر نیولو وروسته یې امر وکړ چې ټول اوسېدونکي یې باید له تېغه تېر شي. د بهدادین (د سنګان د جنوب لویدیز په اوولس میلۍ کې) افغانانو ځانونه له نادر سره جګړې ته چمتو کړل او له هرات څخه یې مرسته وغوښته، چې په نتیجه کې اوو � اتو زرو ابدالیانو مرستې ته ورودانګل او سنګان ته نږدې (د افغانستان � ایران پولو د لویدیځ په څلوېښت میلۍ کې) کتار شول او په هغو جګړو کې چې د دواړو غاړو ترمنځ وشوې، ابدالیانو د نادر ځواك ته سخت ګوزار ورکړ، چې نادر شاتګ ته اړ او مشهد ته ستون شو.(5)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د 1141هـ په شوال (د 1729 م کال د مي په درېگيمه) نادر د لښکرکښگـۍ وسايلو تر برابرولو وروسته د طهماسب په ملتيا د هرات د نيولو په هوډ وخوځېد. کله چې ابدالي افغانان له دې برید څخه خبر شول، نو د اختلافاتو پر ليرې کولو بوخت شول.

هغه مشران چې پر دې مهال يې د هرات د واك نيولو هڅه کوله دا دي: د عبدالله خان ابدالي زوی الله يار خان او د محمدزمان خان مشر زوی او د احمدخان ورور ذوالفقار خان. الله يار خان د ابدالي ځواکونو عمده مشری او هراتي حکومت ته ټاکل شوی و، رقيب يې ذوالفقارخان فراهي حکومت ته ټاکل شوی و. د هرات ځواکونه د الله يارخان په مشرۍ له هراته د شمال غربي خوا د کافرکلا پرلوري روان شول.

دواړه ځواکونه کافرکلا ته نژدې سره مخامخ شول، همدلته وو چې ابداليانو لس کاله مخکې د محمدزمانخان په مشرۍ ايرانيانو ته د صفي قليخان په مشرۍ ماتې ورکړې وه.

جگړه پيل شوه او ابداليانو په خپل يو برید کې د ايران نظام پلي (پياده) ځواکونه سره وپاشل، خو د نادرشاه سپاره نظام پر افغانانو سخت برید وکړ، چې يو ابدالی مشر هم په کې ووژل شو.

په دې اخ و ډب کې حاجي مشکين خان ابدالي ځان نادر ته نژدې کړ او پـه نېزه يـې پـر نـادر گوزار وکړ، چې د نادر ښي (راسته) پښه يـې

ورټپي کړه)6.(

بله ورځ ابداليانو هريرود ته شاتـگ وکړ او د نادر ځواکونه ورپسې شول، تر کوسويه دباندې (يا کهسان سيمه کې چې د هرات د شمال غرب په شپېته ميلۍ کې پرته ده) يوه تونده جگړه ونښته، دا ځل هم برى د نادر د ځواکونو په برخه شو. ابدالي ځگواکونه يو ځل بيا جگړې ته چمتو شول او د هريرود د شمال په شپږ ميلۍ کې په "رباط پريان" نومي کلي کې يوه بله وېروونکې جگړه پيل شوه، چې تر غرمې پورې وغزېده او له دواړو غاړو ډېر کسان ووژل شول. ابداليان په پای کې د ښار خوا ته شاتـگ وکړ او تر 48 ساعتونو وروسته چې د باد توپان روان و، بله جگړه ونه شوه.

ټاکل شوې وه، چې د الله يار خان لوری به له نادر سره روغه وکړي، خو نادر ټينگار کاوه چې الله يار دې ځان تسليم کړي، پر همدې مهال خبر راورسېد چې ذوالفقار له خپل هوسا وسلوال پوځ سره د فراه له لارې د هرات مرستې ته راروان دی، نادر ددې خبر په اورېدو د خپل پوځ يوه برخه د ذوالفقار د مخنيوي لپاره په ښار کې وټاکله او خپله يې له خپلو ډېرو ځواکونو سره د هرات د لويديځ په پنځه ويشت ميلۍ، شکېبان نومي سيمه کې مورچه ونيوله)7.(

د فراه ځواکونه د شپې له خوا د الله يار خان له ځواکونو سره يو شول او الله يارخان يوځل بيا ځان جگړې ته چمتو کړ، کله چې د جگړې اور تود شو، نو د ذوالفقار ځواکونو د نادر پر اردوځای برید وکړ او د نادر د ځواك ټول شته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

یې د غنیمت په ډول ونیول. جګړه تر ماښامه وغزېده، له دواړو خواوو ځینې کسان ووژل شول، ځینې وړې مهالنۍ جګړې هم وشوې، خو د درېیو زرو تنو ایراني سرتېرو د وینو او ددوو میاشتو پلې مزله په بیه د نادر پر مخ د سولې ور پرانیستل شو او الله یارخان یوځل بیا د هغه ځای پر حکومت پاتې شو).8(

د ذوالفقار پاڅون او پر هرات د نادر دویمه لښکرکښي:

د هرات په دفاع کې د ذوالفقار ګډون د هرات د خلکو، په ځانګړې توګه د ابدالیانو په نظر د هغه ملي اعتبار او حیثیت نور هم لوړ کړ، ان تر دې چې الله یارخان په ابدالي طایفه کې د ذوالفقار د زیاتېدونکي اعتبار له کبله پر ځان هم ووېرېد او د 1143هـ 1730 م کال د دوبي یوه ورځ د ښکار په پلمه له هراته ووت، کله چې کافرکلا ته نژدې شو، نو ذوالفقار ته یې یو لیك ولیکه چې: غواړم له تا څخه د خپل پلار د وینې بدله واخلم، دا دی زه مشهد ته ځم او نادر له دې خبرې خبروم چې ته یې پرضد پاڅون کوې، زه به د یوه اردو په ملتیا پرتا برید وکړم).9(

پر دې مهال نادر په اذربایجان کې پر جګړه بوخت و، د نادر ورور او د حکومت مرستیال ابراهیم خان په مشهد کې د الله یارخان ښه هرکلی وکړ. کله چې د الله یارخان له خولې د نادر پرضد د ذوالفقارخان له پاڅون څخه خبر شو، نو د مشهد په ټینګولو او ساتلو یې پیل وکړ.

ذوالفقارخان د 1143هـ کال د محرم میاشتې په لومړیو کې اته زره کسه پر مشهد ورخوشې کړل او د نادر ورور ابراهیم خان ته یې تر مشهد دباندې په ټولو جګړو کې ماتې ورکړه).10(

ابراهیم خان یوه ورځ له "کوه سنګینه" پر جګړه لاس پورې کړ. افغاني لښکرو د ذوالفقار خان په مشرۍ په توندو بریدونو سره د هغه پوځ درې وړې کړ، چې د دښمن د وسلوال پوځ قومندان باقرخان تېپي شو. افغاني لښکرو د دښمن پوځ وځغلاوه او خپله ورپسې شوې.

ډېرو ایراني پوځیانو د وېرې له کبله ځانونه شاه ګانو ته واچول او له منځه لاړل، یوازې ابراهیمخان وکړای شول، ځان ښار ته ورسوي او د برید کوونکو پرمخ دروازه وتړي(11) ذوالفقارخان ښار تر ټینګې محاصرې لاندې ونیو. محمدکاظم لیکي: د جګړې په وروستۍ ورځ د (1143هـ کال) د محرم په (13) مه د مشهد مشرانو او د نادر زوی رضاقلي میرزا نادر ته یو لیك ولیکه او ژر یې آذربایجان ته واستاوه او له نادر څخه یې مرسته وغوښته.

د ذوالفقار ځواکونه څو شپې په پر له پسې ډول د مشهد کلا پر شا و خوا راوګرځېدل، چې د ننوتو یا هم برید لار پیدا کړي، خو هېڅ یې ترلاسه نه کړل. یوه ورځ یې د کلا په شا و خوا کې څو تنه ونیول او له هغوی څخه یې د معلوماتو غوښتنه وکړه، اخر څرګنده شوه چې خلك د نادر راتلو ته سترګې پر لار دي او لس ورځې کېږي چې دا موضوع نادر ته رسول شوې ده. ذوالفقار خان دا موضوع د لښکر له مشرانو سره شریکه کړه، اخر پرېکړه وشوه چې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

باید ډېر ژر هرات ته ستانه شي. په پای کې ابدالي ځواکونه روان شول او ډېر ژر هرات ته ورسېدل او د نادر د عکس العمل په انتظار یې د هرات د برجونو پر ځواکمنولو لاس پورې کړ. کله چې نادر د ذوالفقار له سرکښۍ او پر مشهد د ابدالي ځواکونو له برید څخه خبر شو، نو له خپلو نظامي مشرانو سره یې پر مشورو پیل وکړ. په پای کې تصمیم ونیول شو، چې باید ډېر ژر مشهد ته ستانه شي، نادر له خپلو ځواکونو سره مشهد ته ستون شو او ویل کېږي دا اووه مزلونه یې په یوه منزل کې ووهل).12(

کله چې د اصفهان پولو ته ورسېدل، نو نادر ته د رضاقلي میرزا بل زېری هم ورسېد، چې د مشهد د محاصرې پرېښودل و، نادر یوځه سوړ شو او څه موده یې ارام وکړ او بیا بېرته خراسان ته روان شو. کله چې مشهد ته ورسېد، نو خپل ورور ابراهیم خان ته یې ګواښ وکړ چې هرکلي ته یې رابهر نه شي، ګنې وبه وژل شي. ابراهیم خان هم ابیورد ته لاړ.

نادر مشهد ته راغی، هغه کسان یې وځپل چې له ابدالیانو سره یې په جګړه کې له ځانه کمزوري ښودلې وه او هغو کسانو ته یې ډاډ ورکړ چې خپل پلرونه یا اولادونه یې له لاسه ورکړي وو.

نادر خپل یو شمېر پوځیان رخصت کړل، چې خپلو کورونو ته لاړ شي او هرڅومره چې کولای شي خپل اسونه چاغ کړي، وروسته د ایرساري، تکه وو، ترکمنو، یموتو او ساروقو قبیلو د پاڅون غلي کولو لپاره ابیورد او مرو ته روان شو).13(

نادر، د ترکمنو قبیلو تر غلي کولو وروسته امر وکړ چې پر هرات دې د لښکرکښۍ لپاره خواړه او نور اړتیا وړ مواد تیار شي، ددغو موادو تر برابرېدو وروسته له 36زره کسیز پوځ سره د هرات پر لوري روان شو).14(

کله چې د نادر پوځ خوافو ته ورسېد، نو نادر خپل لږ پوځ د محمدبېګ مروي په مشرۍ قاین ته ولېږه او د یزد او کرمان د حاکم ویردي خان افشار لپاره یې یو لیك هم ولیکه او کرمان ته یې ولېږه، چې هغه له خپل پوځ سره مل په قاینات کې له محمدبېګ مروي سره یو شي او له هغه ځایه بیا د فراه خوا ته حرکت وکړي. کله چې ذوالفقارخان خبر شو نادر له خپل لوی پوځ سره هرات ته رانژدې کېږي. نو د ښار په شا و خوا کې استوګن ابدالیان یې ښار ته ولېږدول او د ښار تر ځواکمنولو وروسته د نادر د مقابلې لپاره چمتو شو. دواړې لښکرې په کوهسان (کوسویه) نومې سیمه کې سره مخامخ شوې، په هغو جګړو کې چې کوهسان ته نژدې په جوی نقره نومې سیمه کې سره ونښتې، د ذوالفقار پوځ ډېر تلفات ورکړل، ځکه د محمدکاظم په وینا د ذوالفقار پوځ (د طلاق پر صیغې قسم یاد کړی و چې د ژوند تر وروستي حده به پر شا نه شي). په دې توګه ابدالي لښکرو چې له پیله یې برید پیل کړی و، د مړینې له وېرې پرته ځانونه د نادر شل قدمیو ته چې د خپل پوځ په منځ کې و، ورسول. پر دې مهال د نادر د توپخانې غږ اوچت شو او په نیم ساعت کې یې اووه اته زره افغانان په خاورو او وینو ولړل. محمدکاظم وایي: (افغانانو له مړینې څخه وېره نه کوله، بلکې په جګړه کې لا تودېدل)).15(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محمدکاظم په وینا: اخر ذوالفقار د شلو زرو تنو ټپیانو او مړو تلفاتو تر ورکولو وروسته شاتګ ته اړ او ښار ته راستون شو او خپلو پوځیانو ته يې لارښوونه وکړه چې د ژوند تر پایه د ښار ساتنه وکړي، نادر هم له خپلو پوځیانو سره له جوی نقره سیمې څخه وخوځېد او د پل مالان پر لوري روان شو.

پل ماران ته لا نه و رسېدلی، چې د شاه حسین هوتك له اړخه ذوالفقار ته خبر ورسېد چې د کندهار دوولس زره کسیز پوځ د ابدالیانو د مرستې لپاره هرات ته روان دی، تر دې زېري وروسته د علیمردان خان ابدالي له خوا چې د فراه حاکم و، بل خبر هم راغی چې له فراه څخه اته زره کسیز لښکر هم ښارته رانن‌ووزي. ابدالي پوځیانو او مشرانو په دې خوښۍ نغارې وډنګولې او يوې بلې خونړۍ جګړې ته چمتو شول).16(

اروابښاد غبار لیکي چې دا وخت سیدال خان ناصر له کندهاره له درې زره کسیز سپاره او پیاده پوځ سره د هرات مرستې ته راورسېد، دې مشهور سرتېري د شپې په تیاره کې پر نادري لښکرو وېروونکی برید وکړ، چې د هغه له کبله د ایران پوځ په وېره کې شو او ډېر تلفات يې ورکړل، نادر اړ شو چې د جګړې له ډګره د (تحت صفر) لوړې برخې ته پناه يوسي او هلته د وسلوالو کسانو يوه کړۍ جوړه کړي او پر دفاع پیل وکړي، د هرات او کندهار لښکرو دوه ورځې نور هم دښمن تر پر له پسې ګوزارونو لاندې ونیو، خو د سختې ژلۍ او باران اورېدو له کبله جګړه بنده شوه.

ذوالفقارخان په ښار کې دننه يوه جرګه جوړه کړه او له مشرانو څخه يې ژمنه واخیسته، چې د ژوند تر وروستي حده به جګړه روانه ساتي، وروسته يې يوه تونده او عمومي حمله پیل کړه، نادر ډېره هڅه وکړه چې د توپ او ټوپکو د ډزو تر باران لاندې ددې برید مخنیوی وکړي، خو ویې نه شول کړای، دېته اړ شو چې یوځل بیا شاتګ وکړي.

افغانانو ډېر ژر (ساق سلمان) کلا د خپل دویم مرکز په توګه وټاکله او له هغه ځایه يې پر دښمن ګوزارونه کول او بېرته ستنېدل. نادر هم اړ شو چې یو غوځ او عمومي برید پیل کړي.

نو له توپخانې سره راوړاندې شو، چې یو کار ترسره کړي خو هیڅ هم ونه شول، د هرات لښکرو نوی برید وکړ او له شمس آباد کلي څخه جګړه پیل شوه، خو د دښمن توپخانې د افغانانو درې زره تنه برید کوونکي سره وپاشل، چې په رښتیا هم دا تلفات ډېر درانه وو، ځکه د افغانانو ډېر جنګیالي کسان په کې له منځه لاړل).17(

دویمه جګړه تر ښار دباندې په پوزه کفترخان نومې سیمه کې وشوه، چې له دواړو غاړو ډېر کسان په کې ووژل شول، محمدکاظم لیکي: (په دې ورځ هم سخته پوځي جګړه وشوه، چې له دواړو غاړو ډېر کسان ووژل شول، خو مخالفین (ابدالیان) تر وړاندې نور هم اورني شول او مېړانه يې وښوده، ته وا د کلا له برجونو څخه د خپلو ماشومانو او کورنیو له ننداري پر غیرت راغلي او ځان ته ارزښت نه ورکوي. لکه لمر چې په حجاب کې پټ شي، دواړې خواوې له ماتې سره ستنې شوې)).18(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دربیمه جګړه هم د لومړنیو ورځو په شان په هماغه توندۍ سره پیل شوه، چې ذوالفقارخان د مجهزې توپخانې د نه لرلو له کبله د ښار پر لوري شاتګ ته اړ شو، نادر خپلو پوځونو ته "مالان" پول د لښکرځای په توګه وټاکه او لارښوونه یې وکړه، چې د ښار شا وخوا سیمې دې تر "اوبه" او "شافلان" سیمو پورې وپلټي او لښکر ته دې خوراکي او نور اړتیا وړ مواد برابر کړي.

په دې وضعه کې یو لوی خان له درې زره کسیز پوځ سره هرات ته رانووت او د دوست پرځای له دښمن سره یوځای شو، دا سړی هماغه دلاورخان تایمني و، چې وړاندې یې د نادر له لښکرو سره جګړې کړې وې او بیا د کندهار دربار ته تللی و او هلته یې عزتمن ژوند درلود. دغه سړی له شاه حسین هوتك څخه خوابدی او د هغه د دولت د ماتولو په هڅه کې شو، څرګنګه چې په خپله یې ددې کار ځواك او توان نه درلود، نو نادرافشار یې وټاکه. ویل کېږي چې د لاورخان یوه ښایسته لور درلوده او شاه حسین غوښتل چې ورسره واده وکړي، خو دلاورخان ونه منله او خپله لور یې بل چا ته ورکړه، وروسته د شاه حسین د غچ له وېرې هرات ته وتښتېد او له خپل ځواك سره چې له غور څخه یې برابر کړی و، له نادر سره یوځای شو. له دښمن سره د دلاورخان یوځای کېدو نادر ته نور ځواك هم وباښه).19(

نادر، ښار محاصره کړ او د خپل پوځ ځینې برخې یې د ښار د حاکمانو په توګه وټاکلې، چې یو کس هم له ښاره وتلو یا ننوتلو ته پرې نه ږدي.

څرګنګه چې یې د ښار په لویدیځ کې د "نقره" د مورچل ساتلو ته لس زره تنه او لس زره تنه نور یې د ختیزو مورچلونو ساتنې ته وټاکل او په خپله یې اردوخان نومي کلي کې سنګر ونیو، د نادر پوځونو به د خلکو مالونه او رمې چې څړ ته به یې بېولې، لوټولې.

محمد کاظم لیکي: "کله چې به افغانانو خپلې رمې څړ ته اېستلې، نو وسلوال به د باز په شان له یمین او یسار څخه راتلل، اسونه، اوښان او پسونه به یې لوټل، له بله پلوه به یې ډېر (قزلباش) افغاني غازیان په ګولیو وژل او هره ورځ به د اخ و ډب بازار تود و)."20(

د 1731م کال یوه ورځ ذوالفقارخان تصمیم ونیو چې یو غوڅ برید وکړي، نو له خپلو لږو لښکرو سره له ښاره ووت او د نادر پر مورچل یې برید وکړ، نادر په سختۍ سره دفاع وکړه، پر دې مهال د ښار په شرقي برخه کې ټاکل شوې ډله د نادر مرستې ته راورسېده او دواړې خواوې سره ونښتې. څرګنګه چې د ماتې خطر پیدا شو، نو افغانان راستانه شول او د تورو په واسطه یې په دښمنانو کې ځان ته لاره خلاصه کړه، په دې توګه افغانان یوځل بیا په ښار کې محاصره شول او نادر د محاصرې کړۍ لا تنګه او تونده کړه، خو افغانان بیا هم اړ وو چې هره ورځ له ښاره ووځي او د خوراکي او نورو اړتیا وړ موادو د ترلاسه کولو لپاره د تورې په واسطه د دښمنانو له منځه تېر او راستانه شي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همداسې يوه بريد کې افغاني ډلې "كرخ" ته د راستنېدو په لار کې د دښمن له پوځ سره مخامخې شوې او سخته جګړه ونښته، چې افغانانو ډېر درانه تلفات ورکړل. په دې توګه د دواړو نامساوي ځواکونو ترمنځ څلور مياشتې جګړه روانه وه او د هرات خلك د غلې له قحطۍ سره مخامخ شول. په داسې حال کې چې دښمن تر ايرانه پورې د ارزاقو غزېدلې مواصلاتي لار په لاس کې درلوده او بېغمه جنګېدل.

پر دې مهال سيدالخان ناصر له خپل پاتې پوځ سره د خوراکي او نورو اړتيا وړ موادو د ترلاسه کولو لپاره له ښاره ووت، خو بېرته يې ونه کړاى شول ښار ته راستون شي. له دې کبله يې د اسفزار، فراه او کندهار لاره ونيوله.

ذوالفقارخان چې پردې پېښو سربېره يې د ابداليانو نه يووالى او د دښمن ګوزارونه ليدل، نو يوه جرګه يې جوړه کړه او ويې ويل: د نادر په شان له يوه ځواکمن او واکمن دښمن سره زموږ نفاق د هرات د ماتې او سقوط سببېږي، نو تاسې چې ددې پېښې د مخنيوي لپاره څه اټکلوئ، زه به ستاسو پر پرېکړې قناعت وکړم. د الله يارخان پلويانو چې د جرګې اکثريت وو، وويل: موږ غوره دا ګڼو چې ته الله يارخان ته چې د نادر په پوځ کې دى، خپل حکومت وسپارې. ذوالفقارخان ځواب ورکړ: زه د مشرانو له مشورې سرغړونه نه کوم او د هېواد خير ته د ځان تر خير ترجيح ورکوم. وروسته د نادر پوځ ته يو پلاوى لاړ او د ښار د خلکو له خوا يې پيغام ورکړ چې ددې وينې توېيدنې نتيجه څه ده؟ که تاسو هرات غواړئ، خپل دوست (الله يارخان) موږ ته راواستوئ چې د ښار واك ورکړو.

نادر دا شرط په بېره ومانه او الله يارخان يې په دې شرط هرات ته ولېږه، چې دده اطاعت به کوي.

خو الله يارخان چې کله هرات ته ورسېد، د ذوالفقارخان او د ښار د خلکو هرکلى يې وليد، نو د ذوالفقار خوا يې ټينګه کړه او د نادر له اطاعت څخه يې سرغړونه وکړه او جګړې يې روانې وساتلې).21(

د فراه فتحه او د هرات برخليك:

پر همدې مهال ذوالفقارخان خبر شو چې نادر مخکې له مخکې د فراه د نيولو لپاره پوځ تيار کړى، نو ډېر ژر يې عليمردان خان له درېيو زرو کسانو سره فراه ته ولېږه او لارښوونه يې وکړه چې :" د قزلباشو په دفع کولو او د کلا په ساتنه کې هڅه وکړې، فراه ښار وساتې او کله چې يې اړتيا ډېره شوه نو له حسين شاه څخه دې مرسته وغواړې. په مېړانه دې ګامونه اوچت کړې او په ګړنې ډول يې د کلا ساتنې په اړه احتياط او پوځې توب وروښود او نيمه شپه يې له هغې خوا چې شا و خوا يې له قزلباشو پوځيانو تشه وه، خپل ورور عليمردان خان(؟) له درېيوزرو کسانو سره د لوټونې لپاره د فراه دارالرفاه ته ولېږه)."22(

عليمردان ډېر ژر د امام ويردي بېګ او محمدبېګ مروي تر راتلو وړاندې ځان فراه ته ورساوه او د کلا د دېوالونو او برجونو په ټينګولو او د ژورو کندو په کيندلو يې پيل وکړ. د هغه ځاى لزګيه طايفې ته يې ډېر انعامونه ورکړل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د نادر پرضد يـې جګړې ته وهڅوله. ډېره موده نه وه اوښتې چې امام ويردي بېګ د اتو زرو پوځيانو، څو توپونو او نږدې پنځوسو زنبورکو اوښانو په ملتيا (تون) ته ورسېد، همدا راز د سيستان حاکم مصطفى خان او لطف عليخان کياني هم له خپلو څلورو زرو پوځيانو سره له نادر سره يو شول.(23) دواړه پوځونه له فراه څخه د کاه کلا (يا لاش او جوين) له لارې روان شول.

دا ځواکونه د (1143) هـ کال د ذي الحجې مياشتې په 28 مه نېټه د ده نو په سيمه کې (چې اوس په نو ده مشهوره ده) د فراه له مرکزه د جنوب پر خوا څه له پاسه پنځه لس کيلومتره ليرې لاړل، له دې خوا د ذوالفقارخان ورور عليمردان خان ابدالي او احمدخان له خپلو ځواکونو سره چې (د محمد کاظم په وينا شلو زرو تنو ته رسېدل) په مقابله پيل وکړ.

په کاهدانك کې د دواړو غاړو ترمنځ سخته جګړه ونښته، چې په نتيجه کې د کرمان د ټوپکوالو مشر او محمدبېګ مروي ووژل شول).24(

د جهانکشاى نادري نومي کتاب په (155) مخ کې د محمدبېګ مروي پرځاى محمدسلطان مروي ليکل شوى، چې سموالي ته نژدې دى. ځکه نن د اسفل غره په جنوب کې د سلطان مير (سلطان مروي) په نامه يو زيارت شته چې د هغه ځاى خلك ډېر ورته ارادتمن دي.

د اسفل غره (اشپل کوه) تر شا د دواړو ځواکونو ترمنځ جګړه روانه وه، د محمدکاظم په وينا :" افغان ډلو په هغو ورځو کې داسې جګړه وکړه، چې چا تراوسه داسې زړورتيا نه وه ليدلې)."25(

محمدکاظم ليکي چې امام ويردي بېګ تر دې جګړې وروسته امر وکړ چې نظامي مشران دې د ده د ملاقات لپاره په کشيك خونه کې سره راټول شي او د (کورنش) مراسمو له پرځاى کولو وروسته دې خپلو نظامي دندو ته دوام ورکړي. نظامي مشران چې هريو د خپلې سيمې خان او فيوډال و، د امام ويردي په دې کار خوابدي شول، نادر ته يـې يو توطيه ييز ليك وليکه او هرات ته يـې ولېږه، چې ګواکې امام ويردي بېګ د پاخون خيال لري، د هغه د بېغورۍ له کبله دوه نظامي مشران او نور ډېر سرتېري له فراهيانو سره په جګړه کې ووژل شول.

نادر ددې ليك په لوستلو خپل ورور ابراهيم خان ته چې په مشهد کې و امر وکړ چې فراه ته لاړ شي او د هغه ځاى د لښکرکښۍ او تسخير واګې په لاس کې واخلي. ابراهيم خان فراه ته لاړ او امام ويردي بېګ يـې بندي کړ، وروسته د نادر ځواکونو د ابراهيم خان په مشرۍ پر مدافعينو بريد وکړ چې خونړۍ او وېرووونکې جګړه ونښته. يوشمېر فراهيان ووژل شول او د يو زرو پنځه سوه تنو په شا و خوا کې يا ټپيانْ يا هم اسيران شول، عليمردان خان اړ شو چې د ښار له دننه د نادر له پوځ سره جګړه روانه وساتي او مرستې ته په تمه پاتې شي).26(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نادر لښکر هم وړاندې راغی او په "مزرعه ویس" سیمه کې چې له فراه سره یې یو میل واټن درلود : (او د میرزا مهدي خان په وینا په قمر(؟) کلي کې يې (چې په ظاهره به د "محمدکلا" په توري کې تېروتنه وي) هملته اردوځای جوړ کړ، د دولت مرستیال ابراهیم خان سوچ کاوه چې جګړه او د فراه ښار فتحه به ډېر وخت ونیسي، نو د یوې کلا او برجونو په ودانولو یې پیل وکړ.

فراهیانو چې ولیدل چې دښمن کلا او برجونه ودانوي، نو له پوځي وسایلو او خواك پرته یې په ډله ییز ډول ورباندې برید وکړ. خو د (یو زرو څلور سوو) تنو مړو په ورکولو سره، بې له ګټې ښار ته راستانه شول او دېوالي جګړې یې روانې وساتلې.

همداراز د فراه ځینې مشران د مرستې لپاره کندهار ته شاه حسین هوتك ته لاړل، په کندهار کې مغرضو فیوډالانو زاړه قبیله یي مخالفتونه راژوندي کړل، شاه حسین یې له ذوالفقارخان او علیمردان سره په مرسته کې دوه زړې کړ. خو بیا هم شاه حسین هوتك (په ظاهره دوه زره) کسیز پوځ د لعل محمدخان په مشرۍ د هرات او فراه خوا ته ولېږه، د شاه حسین هوتك نظامي فیوډالانو پوځ ته لارښوونه وکړه (چې د لارې په اوږدو کې هرځای تم شي، چې په ارامۍ او ځنډ سره لاره ووهي)).27(

په دې توګه د کندهار مرستندوی پوځ د ذوالفقارخان تر ګرندۍ غوښتنې وروسته تر اووه میاشتني مزله وروسته فراه ته ورسېد او دا هغه مهال و چې کار له کاره تېر شوی و، ځکه ذوالفقارخان او د هرات خلکو د خوراکي او نورو اړتیاوړ موادو پرکمښت سربېره دیارلس میاشتې په مېړانه له خپله ښاره دفاع وکړه.

اخر د اوږدمهالې محاصرې له کبله د ښار لوږې، نېستۍ او خواریو خلك ډېر وځورول او له بهره بله مرسته هم ورسره نه کېده، د ښار ځینو مشرانو د ذوالفقار له خبرتیا پرته نادر ته پیغام ولېږه، که عبدالغني خان الکوزی بېرته ښار ته راشي او نادر د سولې شرایط ومني، نو ښار به د نادر پوځ ته پرانیستی وي، ذوالفقار خان هله له دې خبرې خبر شو چې عبدالغني خان او نور ملګري یې ښار ته راننوتي وو او تاکل شوې وه چې دواړه خواوې به لوظنامې لیکي او لاسلیکوي به یې هم.

او هغه هم له الله یار خان سره چې اووه میاشتې مخکې د نادر له پوځ څخه بېل شوی او ښار ته راغلی و او د نادر پرضد یې جګړې کولې، نو د شپې له خپلې کورنۍ سره له ښاره ووت او کندهار ته لاړ.

خپل ورور علیمردان ته یې خبر ورکړ چې باید له فراه څخه کندهار ته راشي، علیمردان هم په یوه شپه له ښاره ووت او کندهار ته لاړ، خو له بده مرغه چې ذوالفقار له خپلو ورونـو سره د دښمنانو د بدویلو له کبله د شاه حسین زندان ته ولوېد او الله یارخان د ملتان خوا ته لاړ).28(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا سهار چې کله ابراهیمخان د فراه د سردارانو او مشرانو له تېښتې خبر شو، نو د هغو پر ځارنه یې پیل وکړ، د ابراهیمخان پوځونو د تښتېدونکو خلکو زر کورنۍ چې له ښاره ډېرې لیرې هم نه وې، لوټ او بېرته ستنېدو ته اړې کړې.

د ابراهیم خان پوځونو بیا هم غوښتل چې تښتېدونکي وڅاري، خو د کندهار له مرستندوی ځواک سره مخامخ شول، سخته جګړه ونښته، ابراهیم خان ښار ته پر شاتګ اړ شو. وروسته فراه ښار ته ننوتل او بیا په هرات کې نادر ته د ښار د فتحې خبر ورسېد.

نار فرمان ورکړ چې فراه دې باقرخان لزګي فراهي ته وسپارل شي او ابراهیمخان دې له پوځ سره هرات ته راشي. ابراهیمخان هرات ته ورسېد، نادر د ملك محمود سیستاني د ځواك سپه سالار پیرمحمد ته هرات وسپاره، دې سړي له نادر سره د مشهد د دروازو په پرانیستنه کې مرسته کړې وه. نادر خپله مشهد ته ستون شو).29(

نادر د خپل زړه د ډاډه کولو لپاره تصمیم ونیو، چې له هرات او فراه څخه دې ټول ابدالي مشران لیرې کړل شي، نادر د عبدالغني خان الکوزي (د احمدشاه دراني ماما) او نورمحمد خان غلزي په ګډون خراسان، مشهد او دامغان ته شپېرزره کسان تبعید کړل، خو په دې ترڅ کې یې د ابدالي قبیلې ځینې مشران لکه عبدالغني خان خپل پوځ ته جلب کړل).30(

د کندهار د نیولو لپاره د نادر لښکرکښي:

نادر تر تاجپوښۍ وروسته په 1736 م کال د ایران د بختیاري قبیلې د ځپلو لپاره اوچت شو او هغه وخت چې د دې قبیلې د پاڅون کوونکو په ځپلو بوخت و، نو د اصفهان حاکم ته یې امر وکړ، چې پر کندهار د لښکرکښۍ لپاره له خلکو پیسې او نور اړتیا وړ مواد راټول کړي. کارکوونکي نه یوازې په اصفهان، بلکې په بګېلابېلو ښارونو کې د پیسو او نورو جګړه ییزو ځواکونو او توکو پر راټولونه بوخت شول، له همدې کبله د ایران خلك یوځل بیا له اقتصادي کمزورۍ سره مخامخ شول.

نادر تصمیم ونیو چې د کرمان او سیستان له لارې د کندهار پر لوري لښکرکښي وکړي، څرنګه چې د لارې ډېره برخه یې دښته وه، نو امر یې وکړ چې: لومړی دې د "لوت" دښتې بېلابېلو منزلځایونو ته خوراکي مواد او نور توکي ولېږدول شي او د لښکر د بارونو لېږدونې ته دې د کرمان له خلکو څاروي بېګار شي، د شاه کارکوونکو به په ښار کې کاروانونه هم پیاده کول او د هغوی حیوانات به یې په بېګار ورڅخه بېول. د خوارو کلیوالو څاروي خو پر ځای پرېېږده.

د نادر کارکوونکو په کرمان کې د خوراکي او نورو موادو په راټولونه کې دومره زیاتی وکړ، چې دا ایالت تر اتو کلونو له قحطۍ او لوږې سره لاس و ګرېګوان و).31(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نادر د (1149) هـ کال د رجب میاشتې په (17) مه (د 1736م کال د نومبر په 21 مه) له اتیازرو تنو پوځیانو سره چې ډېر یې سپاره 0وو، له اصفهان څخه د کندهار پرلورې حرکت وکړ. سربېره پر دې د هرات بېګلربېګ پیرمحمد ته هم دنده ورکړل شوې وه، چې له خپل څو زره کسیز پوځ سره د مکران او بلوچستان د مشرانو محبتخان او الیاس خان تر ځېلو وروسته په کندهار کې د نادر له ځواکونو سره مل شي.

نادر کرمان ته تر رسېدو وروسته د ملك محمود سیستاني زوی فتح علیخان کیاني ته یو ګواښوونکی پیغام ولېږه چې د سیستان پوځ دې د هغه ځای په پولو کې د نادر له پوځ سره یو شي، بیا د (بم) له لارې د سیستان پر لورې روان شو.

نادر د (1149) هـ کال د شوال میاشتې په دویمه (1737م کال د فبرورۍ په درېیمه) له خپل پوځ سره سیستان ته راغی، د لارې د توښې او د پوځ د نورو بارونو د لېږدونې لپاره یې د اوښانو تر برابرولو وروسته، تر شپاړلس ورځنې مزله او له دلارام څخه تر تېرېدو وروسته د هماغې میاشتې په اتلسمه نېټه د هلمند راسته ساحل (ګرشك) ته ورسېد او تر لږې جګړې وروسته یې دا ځای له غلزي ځواکونو څخه ونیو).32(

دلته نادر د خپل پوځ یوه برخه ددې سیمې د ځګمکوالو لوټونې ته او یوه برخه یې د خلکو د مالونو پر راټولولو ماموره کړه او خپله له خپلو پاتې ځواکونو سره د کندهار د ارغنداو پر لورې روان شو او په کوه شاه مقصود (د کندهار په خاکرېز سیمه کې چې د ښار د شمال- لویدیځ په دېرش میلۍ کې پرته ده) تم شو. همدلته وو چې سیدالخان ناصر او یونس خان هر یو له اتو زرو پوځیانو سره د شپې له خوا له ښاره ووتل او د نادر پر ځواکونو یې ورودانګل. خو څګرنګګه چې د نادر د ځواك د ابدالۍ برخې مشر عبدالغني خان له دې برید څخه خبر و، نو د کندهار د جنګیالیو برید یې شنډ کړ او هغوی یې له ډېرو تلفاتو سره شاتګ ته اړ کړل.

سبا ته د نادر ځواکونه له ارغنداو څخه تېر شول او څو ورځې وروسته یې په شېرسرخ (سره زمري بابا) کې: "د ښار د شمال - ختیځ په دوه - درې میلۍ کې" اردوځای جوړ کړ).33(

د ښار خلکو د شاه حسین هوتك په امر د ښار دروازې د نادر پر مخ وتړلې او لس میاشتې یې په کلکه دفاع وکړه، کله � کله به خلك د شپې له خوا د یرغلګرو د بریدونو له کبله ځورول کېدل، نادر چې ولیدل له یوې خوا ځواکمن برجونه او غر د ښار ساتنه کوي، نو پوه شو چې نیول یې دومره ژر نه شي کېدی. نو د ښار په شاو خوا کې یې د خپلو اردوځایونو په پراختیا او ودانولو پیل وکړ او د ښار سیمه ییز خلك یې بېګارۍ ته اړ کړل او د لویو دېوالونو، ځواکمنو برجونو، سرپوښلو بازارونو، جوماتونو، حمامونو او په هغه سیمه کې یې د بېلابېلو ادارو پر جوړولو پیل وکړ، چې د (نادر آباد) په نوم یې یو ښارګوټی جوړ کړ).34(

نادرآباد د یوه ځواکمن دېوال بڼه درلوده، چې د کندهار پر شا و خوا راتاو شوی و او د دېوال تر هرو سلو ګامونو وروسته لوی � لوی برجونه جوړ شوي وو، چې د ښار پر خوا ډزې ترې وشي، نو ښار یې په سخته اقتصادي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

محاصره، په ځانګړې توګه د خوراکي موادو په نشت کې ساتلی و او دا هغه چلند و چې نادر د بغداد د محاصرې پروخت ترسره کړی و).35(

په پای کې د شاه حسین د اړوندو کسانو د یوه تن (داد خان یا دادوخان) د خیانت له کبله د نادر ځواکونو ته ښار ته د ننوتو لار وښودل شوه، نادر هم د (1151) هـ کال د ذي الحجې میاشتې په دویمه (1738 م کال د مارچ، 23 مه) د جمعې په ورځ خپل یوه برخه ځواك(بختیاري دا) پر ښار حملې ته ولېږه او د حملې وخت د جمعې لمانځه د ادا کولو مهال وټاکل شو.

په دې توګه په یوه خوځند برید کې د ښار پر برجونو د خمپارو او توپ په ډزو سره تر لرې، خو خونړۍ جګړې وروسته د ښار دروازې د نادر د ځګـواکونو پرمخ پرانیستل شوې، کله چې شاه حسین له موضوع څخه خبر شو چې کار له کاره تېر شوی، نو وروستۍ هڅې یـې هم بې ګټې پاتې شوې له دې کبله نادر ته تسلیم شو).36(

د کندهار تر نیول کېدو وروسته خلك چې لس میاشتې یـې د نادر پرضد په ټینګه مقاومت کړی و، لوټ کړای شول او د نېزو په زور نادر اباد ته وکوچول شول. وروسته نادر فرمان ورکړ، چې ښار دې په بشپړ ډول وران کړل شي).37(

د جهانکشای نادري نومي کتاب د لیکوال په وینا: "نادر: ښار او د هغه استحکامات داسې وران کړل، چې تیره پر تیږه پاتې نه شوه)."38(

خو (لکهارت) په دې اند دی: "څګرنګګه چې ښار ډېر ټینګ دېوال درلود او د اوولسمې پېړۍ په نیمایي کې اورنګزېب وروسته یـې ورور داراشکوه د خپلې خزانې ډېره پانګه ددې دېوال په ټینګولو کې لګولې وه، خو د نادر دا فرمان (یانې ټول ښار باید له خاورو سره یو شوی وای) عملي نه شو او د ښار یوه برخه روغه پاتې شوه)."39(

د "دولت نادرشاه افشار" لیکوالان کاږي: د نادر له خوا د کندهار تر نیول کېدو وروسته هلته "دومره شته او پیسې ترلاسه شوې، چې په ډېرو ستونزو یـې وکړای شول د یوې میاشتې په بهیر کې یې تر ښار دباندې یوسي)."40(

نادر د کندهار تر نیولو وروسته، شاه حسین هوتك او د غلزي قبیلې ټول مشران خراسان ته تبعید کړل او د هغوی پرځای یـې په نیشاپور او د خراسان په نورو برخو کې مېشت ټول ابدالیان کندهار ته ولېږدول اود هوتکو د شاهي کورنۍ د چارو واګې یـې هغوی ته وسپارلې.

عبدالغني خان الکوزی یې، چې د بغداد او ترکیې په فتحه او د هرات او کندهار په نیولو کې یـې د ابدالي ځواکونو په مشرۍ د نادر پر ګټه توره وهلې وه، د کندهار حکومت ته وټاکه او نور ابدالي، الکوزي او علیزي مشران د بُست، ګرشك او زمینداور په حکومت او مشرۍ وټاکل شول).41(

د ګنداسنګ او محمدکاظم په وینا ذوالفقار خان چې له خپل ورور احمدخان (وروسته احمدشاه) سره د کندهار تر فتحې د شاه حسین هوتك په بند کې بندي و، د نادر په امر په ظاهره د مشر په توګه مازندران ته ولېږل شو او هلته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نادر په اشاره له شاه حسین سره مل زهر ورکړل شول. خو د ذوالفقار خان وړور احمدخان د نادر په پوځ کې ګډ شو او ډېر ژر د د نادر د ځواك د ابدالي برخې د څهارهزار د نظامي افسر په توګه ومنل شو. سیدالخان ناصر د نادر په امر په سترګو ړوند کړای شو، حاجي اسمعیل غلزی بېرته هرات حکومت ته راستون شو او څرګنګه چې د ذوالفقار او احمدخان خور يې مېرمن وه، نو د هرات لويديز لوري ته د نادر په اجازه له ایرانه راستنو شويو ابدالیانو ته وسپارل شو).42(

د کابل نیول:

کابل ته هم غمجنوونکی برخلیك وړپېښ شو. نادر د کندهار تر نیولو دوه میاشتې وروسته د (1838)م کال د مې میاشتې په (21) مه نېټه له نادرآباد څخه د کابل پر لوري روان شو. د غزني قره باغ ته په ننوتو سره، د غزني قومي مشرانو، روحانیونو او قاضیانو هرکلي ته ور ودانګل، خو د غزني حاکم کابل ته وتښتېد).43(

میرزا مهدي خان استرآبادي وايي:

نادر له غزني څخه کابل ته تر روانېدو مخکې د خپل پوځ یوه برخه د د ایکندي، جغتو، زنګي او د غزني د نورو هزاره مېشتو سیمو په لوټولو او نیولو ماموره کړه.

خو د هزاره خلکو په مطیع کولو کې د نادر د ځواکونو هڅې بې ګټې پاتې شوې، یوازې يې وکړای شول د هغوی یوشمېر ماشومان او مېرمنې په اسارت ونیسي او په نادر پسې يې کابل ته راولي).44(

محمدکاظم په دې اند دی چې: نادر خپل زوی نصرالله خان د غزني له قره باغ څخه د بامیان او ضحاك کلا پر نیولو مامور کړ، خو هغه د مېشتو خلکو له سخت مقاومت سره مخامخ شو، شازاده نصرالله په بامیان کې د هزاره وو د ایماق قبیلو له سختو خونړیو جګړو وروسته وکړای شول ضحاك کلا ونیسي او یو شمېر هزاره مشران او قومي ریسان په چاریکار کې خپل پلار ته راولي).45(

نادر د غزني تر نیولو وروسته د کابل پر خوا پر مخ لاړ او څه کم خپل دوه زره تنه پوځیان يې مامور کړل چې تر ده وړاندې کابل ته ودانګي.

نادر د کابل کوتوال یاني شرزه خان ته یو پیغام ولېږه، چې په کې ویل شوي وو: د محمدشاه له هېواد سره کوم کار نه لري، خو د هغه ځای د مېشتو افغانانو د له منځه وړلو نیت لري.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل او پېښور صوبه دار ناصرخان له ډیلي څـګـخه مرسته وغوښته، چې د نادر د مقابلې لپاره راودانګي، خو وړ ځواب یـې وانه ورېد، نو هغه هم په خیبر دره کې له خپل شل زره کسیز ځواک سره د نادر راتلو ته په تمه کښېناست.

شرزه خان او خلکو څو ورځې ښه په ټینګه د ښار دفاع وکړه، خو کله چې د نادر پوځونو د ښار دېوالونه ونړول اوپه زوره ښار ته ننوتل، نو په ښار کې له نېستمنو خلکو پرته نور څوك نه وو پاتې، ځکه مېشتو کسانو خپلې شتمنۍ رااخیستې وې او په کلا کې پټ شوي وو: "نېستمن او کموسه خلك چې پاتې وو، هماغه شېبه د نادر د پوځونو له خوا ووژل شول. د نادر پوځونو وروسته د ښار ټول کورونه چې له مرمرو ډېرو جوړ شوي وو وران کړل� د ودانیو دروازې، چتونه او نور لرګین څیزونه یـې وسوځول، یوازې یـې برجونه ځکه پرېښودل چې خپل توپونه په کې ودروي او پر کلا ډزې وکړي).''47(

دیملسون د نادر په لاس د کابل نیولو نېټه د (1738) م کال د جون میاشت اتمه نېټه لیکي).48(

نادر له کابله د محمدشاه ګورګاني لپاره ډیلي ته د دوستۍ ټینګېدو لپاره یو پیغام ولېږه او خپله یـې د خوراکي او نورو اړتیا وړ موادو د برابرولو په موخه پر هندوستان یرغل وکړ، ځکه چې کابل نه شول کولای د نادر د پوځ ټولې اړتیاوې ورپوره کړي، نو نادر د خپل پوځ یوه برخه د کابل ودانو سیمو لکه تـګاو او نجراو سیمو ته ولېږله، چې پوځ او نورو حیواناتو ته په لنډه موده کې خوراکي توکي او واښه برابر کړي او خپله له خپلو ځینو پوځیانو سره د ګندمك له لارې د جلال اباد پر لوري روان شو. کله چې نادر واورېدل، په جلال اباد کې یـې د مړینې خبرې کېږي، نو د هغه ځای له خلکو سره یـې له توند چلند څخه کار واخیست او د یوه کس پرځای یـې د سلو کسانو سرونه پرې کړل او له هغه ځایه بیا د خیبر درې خوا ته روان شو).49(

نادر له جلال اباد څخه د وتو پر وخت د خپل پوځ څه له پاسه دوولس زره کسان وړاندې ولېګړل او امر یـې وکړ چې له عمده ځواك څخه دوه منزله فاصله واخلي.

پر هماغه مهال د کابل مشر ناصرخان، د پېښور او خیبر تر شلو زرو زیات افغانان په خیبر ګردنه کې ځای پرځای کړي وو، چې د ایراني پوځیانو د پرمختـګ مخنیوی وکړي.

څـګرنـګګه چې د نادر (قراولانو) د خیبر درې په ختیزه غاړه کې د دښمن د شتوالي ګزارش ورکړ، نو نادر تصمیم ونیو چې خپل دودیز جګړه ییز چل وکاروي، په دې توګه له یوې ستونزمنې لارې مخکې راغلل او له بله پلوه یـې ناڅاپه پر دښمن برید وکړ.

نادر د یو ښه لارښود په موندلو سره د خپل ځواك لویه برخه په دیکاب نومې سیمه کې پرېښوده او خپله یې د دېرشو زرو سپرو په مشرۍ د (سه چوبه) له لارې چې ډېر اوچت غر دی، پر دښمن راودانګل، بله ورځ یـې دېرش فرسخه لار ووهله او د ناصرخان پر ځواکونو یـې برید وکړ او دوی یـې په لنډه موده کې د پېښور او جمرود پرلوري تر شا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړل، ناصرخان او د مقابل لوري ځينې نور مشران يـې ونيول او تر درېيو ورځو وروسته د پاتې ځواکونو په راتلو سره د پېښور پر لوري روان شول.(51)

نادر د پېښور تر نيولو وروسته پر لاهور بريد وکړ او لاهور يـې له جګړې پرته ونيو. تر هغه وروسته د هند د ګورګاني دولت پلازمېنې (پايتخت) شاه جهان آباد ته متوجه شو، چې د نار ځواکونو تر لړو جګړو وروسته د هند وروستي ګورګاني واکمن محمدشاه تسليمېدو ته اړويست او نادر د 1151هـ کال د ذي الحجې په اتمه د جمعې په ورځ شاه جهان آباد (ډيلي) ته ننووت.(51)(۞)

د کندوز او بلخ نيول:

هغه مهال چې نادر د کندهار پر محاصره بوخت و، نو شل زره کسيز پوځ يـې د زوی رضا قلي ميرزا په مشرۍ له خراسانه د بلخ د نيولو په موخه روان شو او په ماروچاق سيمه کې د هرات مرستندوی پوځ هم ورسره ملګری شو او وروسته د اندخوی پر لوري وخوځېدل. کله چې دا پوځ د اندخوی په يو منزلۍ قراتپې ته ورسېد، نو رضا قلي ميرزا د اندخوی حاکم عليمردانخان ته يو ليك ولېږه، دا اشاره يـې هم ورته کړې وه چې تسليم شي او ښار د عزيزقليخان دادخواه ورور نياز قلي ته (چې مخکې يـې له عليمردانخان ازبك سره د هغه ځای پر حکومت اختلاف پيدا شوی و او اصفهان ته رضا قلي ميرزا ته تللی و). وسپاري، عليمردانخان له ځان سره سوچ وکړ كه له مقاومت پرته ورتسليم شي، نو حتماً به د کينه ګرو: نياز قلي دادخواه او عزيز قلي له خوا ووژل شي، نو تصميم يـې ونيو چې د ځان او د ښاري خلکو د دفاع لپاره اوچت شي. نو رضا قلي ميرزا ته يـې ځواب ورکړ چې د ښار پرېښودو ته چمتو نه دی. د رضا قلي ميرزا پوځونو ډېر ژر ښار محاصره کړ، هلته عليمردانخان هم دېوالي (حصاري) جګړې پيل کړې، چې دا جګړې څلوېښت ورځې وغزېدې، اخر د سيمې ځينو فيوډالانو له عليمردانخان سره مخالفت پيل کړ او له دښمن سره يـې له مقاومت څخه لاسونه واخيستل، رضا قلي ميرزا د ښاريانو ترمنځ د اختلافونو په پوهېدو سره محاصره نوره هم تونده کړه، عليمردان چې وليدل د ښار خلك زړه نازړه شوي، نو له جګړې څخه يـې لاس واخيست او ښار يـې رضا قلي ميرزا ته وسپاره، رضا قلي ميرزا د اندخوی حکومت نيازقلي دادخواه ازبك ته وسپاره، عليمردان خان او د اندخوی ښار دوه نور مشران يـې چې له هغه سره يو لاس شوي وو، هرات ته واستول او هملته ووژل شول.(52) د نادر پوځونو وروسته شبرغان او آقچه هم ونيول او د بلخ پر لوري وخوځېدل.

د بلخ حاکم ابوالحسن د چنګېزخان د کورنۍ له پاتوشونو، يو کمزوری او سست ارادې سړی و. د هغه ناظر قبچان د نادر له پوځ سره جګړې ته چمتو شو، له بلخ ښار څخه دوولس زره تنه د جګړې په موخه ووتل، چې بلخ ته نژدې يوه کوچنۍ خو خونړۍ جګړه ونښته، چې په پای کې سيدخان قبچان له خپلو څو تنو پوځيانو سره د (شاديانو) خوا ته شاتګ وکړ، ځينې پوځيان شاه مردان ته وتښتېدل او ځينې هم ښار ته راستانه شول او د نادر د پوځيانو پرمخ يـې دروازې وتړلې، رضاقلي ميرزا تر ښار دباندې چمن ته نژدې اردوګای جوړ کړ. د نادر پوځونه به ډلې ډلې د ښار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

شا وخوا راتلل خلك به يـې لوټل او هغه شتمنۍ او مالونه به يـې خپلو اردوګانو ته وړل. اخر د ښار ځينې سپين ږيري او روحانيون رضا قلي ميرزا ته ورغلل او د تسليمېدو چمتووالی يې وښود.

رضاقلي ميرزا هم ددې وضعې هرکلی وکړ او خپل ځينې مشران يـې د لوټونو او غلاوو د مخنيوي لپاره ښار ته ولېږدول او ځای پر ځای کړل. ابوالحسن چې د ښار په بالاحصار کې پټ و، کله چې خبر شو د نادر ځواکونو د ښار ځينې برخې نيولي، قرآن په لاس او توره په غاړه له ارګ څخه ووت او رضاقلي ميرزا ته تسليم شو. رضاقلي همدغه سړی خپل پلار ته چې د کندهار پر محاصره بوخت و، ولېږه. نادر هغه ته اجازه ورکړه چې د خدای ۞ د کور زيارت ته لاړ شي او هلته ومري.

رضاقلي ميرزا د بلخ تر فتحې وروسته، خپل ځينې پوځيان د شاه قلي مروي په مشرۍ د سيدخان قبچان د څارنې او نيونې لپاره سانچارك ته ولېږل.

له بل لوري سيدخان ازبك خپل ځينې نور کسان د سنچارك شا و خوا ته واستول، هغوی يـې د نادر د پوځونو له لوټونو او د تباهۍ له ګواښ څخه خبر کړل او هيله يـې ورڅخه وکړه چې د نادر د پوځونو په له منځه وړلو کې ورسره مرسته وکړي. د سنچارك سيمې ازبکان د سيدخان ازبك په پلوي اوچت شول، په يوه جګړه کې چې په يوه دره کې د شاه قلي بېګ له ځواکونو سره وشوه، د دښمن پوځ ته يـې وژونکی ګوزار ورکړ، چې ان په پيل کې د دښمن د اختلال سبب شو.

محمد کاظم ددې جګړې يو انځور داسې کاږي: "هغه دوې ډلې د دوو رودونو او يا دوو غرونو په شان يو پر بل راپرېوتلې، داسې جګړه ونښته چې وينې ښنونکی بهرام ورته ګوته پر غاښ پاتې شو:

ژباړه:

دوو لښکرو زړونه مرګ ته کښېښنګودل
د ږليو په شان غشي اورېدل

يو پر بل باندې بريدونه پيل شول
غرونو، دښتو په سرو وينو ولامبل

هوا ډکه شوه له تورو او له غشيو
واړه ترېي شګې شوې پرې خړوبې

سره ويې وژل هره خوا ښه ډېر
چې له مړو ټولې لارې ډکې شوې).53(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د یوه ازبك قومندان په وژل کېدوسره د سیدخان خلك وارخطا شول، چې په پایله کې له ماتې سره مخامخ شول. ځینې تېپیان، ځینې مړه شول او ځینې وتښتېدل، د نادر پوځونو د هغه ځای مېشت ټول مالدار او ځاروي لرونکي ازبکان له ځان سره په زوره بلخ ته بوتلل او دوی بېرته خپلو لومړنیو ځایونو ته راغلل، هغه بل پوځ چې د رضاقلي میرزا له خوا د سیدخان قبچان په ځارنې پسې روان شوی و، د سیدخان د ډلې د ځپلو لپاره د سانچارك پر لوري روان شو. سیدخان ازبك څه موده د هغې سیمې په غرونو کې پټ و، کله چې خبر شو د نادر خلك یې له ځارنې لاس نه اخلي، نو اړ شو چې کندوز ته د یو سفخان ازبك ورور هزاره خان ته لاړ شي او پناه ځنې واخلي .

د نادر پوځونه د سانچارك سیمې د خلکو تر تابع کولو او له هغو څخه د مالیاتو او ډېرو نورو شتو تر اخیستو وروسته بېرته بلخ ته ستانه شول.

رضاقلي میرزا د بلخ حکومت یوڅه نور هم ښه کړ او خپله له خپل پوځ سره د قارشي او آمو سواحلو خوا ته روان شو).54(

وروسته تر دې چې رضاقلي میرزا د آمو په سواحلو کې بېلابېل ښارونه او ښارګوټي ونیول، نو خبر ورکړل شو چې د کندوز د حاکم یو سفخان ازبك ورور هزاره بېگ د سیدخان قبچاق په مرسته د نادر له پوځونو سره جګړې ته چمتو کېږي، رضاقلي د طهماسب خان جلایر په لارښوونه خپل پوځ د کندوز پر لوري روان کړ.

د نادر د پوځونو وژنو او لوټونو د سیدخان او د کندوز د حاکم یوسفخان په زړونو کې داسې وېره رامنځته کړې وه، چې کندوز ته د نادر د پوځونو تر راتګ دمخه سیدخان بدخشان ته د هغه ځای والي نباتخان ته وتښتېد، یو سفخان چې یو وېرندوکی سړی و، د نادر له پوځ سره تر مخامخېدو مخکې سکته وکړه.

کله چې رضاقلي میرزا د کندوز څو فرسخۍ ته ورسېد. مشران، فیوډالان او روحانیون له ډالیو سره ورغلل او له هغه سره یې خپل ملاتړ څرګند کړ، رضاقلي میرزا له مقاومت پرته کندوز ته ننووت او د یو سفخان کلا یې د خپل استوګنځي په توګه وټاکله.

محمدکاظم د رښتینو روایت کوونکو له خولې وایي چې یوسفخان ازبك یو عیاش، بدای او ښځې خوښوونکی سړی و، چې له هغې سیمې څخه یې شپږ سوه ښځې او نجونې په زور خپلې کلا ته راوستلې وې او ساتلې یې، هغه ښځو ته اېلول، سندرې غږول، نڅاوې، موسیقۍ، شعبده بازۍ او رسۍ بازۍ ورزده کړې وې، سربېره پر دې یې ځینو خلکو ته زرګري، میناتوري، انځورګري، نقاشي، بقالي، بزازي، سیمساري او نورې حرفې (کسبونه) چې د ټولو شمېر (33) کېده ورښودلې وې، چې ټولو به دده په ګټه کار کاوه. په کلا کې یې دننه نورې بېلابېلې او پراخې ودانۍ

جوړې کړې وې. داسې بازار یې هم ودان کړی و چې د بېلابېلو دکانونو کتارونه په کې وو او ځینو ښځو به په کې سودا او نورې سوداګریزې معاملې کولې� دی به په خپله د تنباکو پلورونکي په توګه بازار ته راته او په کلیواله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لهجه به يې ويل: "ای تر سر مو وګرځم، تر نوم مو ځار شم، ای زما تروريې! زما تنباکو هم کله - کله ځکوئ، پيسې هم راکړئ او زر � زر اهونه وکاږئ."

هغه به له ښځو سره همداسې خبرې کولې او خپل ډېر وخت به يې د ښکلو ښځو په رانيولو تېراوه، له ښځو سره به يې ټوکې، شوخي او شخړې کولې او کله به يې د سندرغاړو او سازنده وو پر خبرو ځان بوختاوه او په خوښۍ سره يې ژوند کاوه).55(

د يوسفخان تر مړينې وروسته رضاقلي ميرزا د کندوز حکومت هزاره بېګ ازبك ته وسپاره، هغه مېرمنې يې چې يوسفخان خپلې کلا ته راوستلې وې ځينې د خپل پوځ مشرانو او مخکښانو ته ورووېشلې او ځينې يې رخصت کړې، چې خپلو اصلي استوګنځيو ته لاړې شي. وروسته رضاقلي ميرزا له خپلو پوځونو سره بدخشان ته روان شو، خو پر همدې مهال ورته د نادر فرمان ورسېد، چې بېرته بلخ ته ستون شي او د هغه ولايت مشرتابه ټينګ کړي او د هغه دربار ته ورشي.

رضاقلي ميرزا هم د پلار په امر بلخ ته لاړ او بلخ حکومت يې د عزيزقلي داد خواه ورور نياز خان ته وسپاره او خپله له طهماسب خان جلاير سره کابل ته روان شو او وروسته جلال اباد ته لاړ او له خپل پلار سره يې وکتل او د نادر د وليعهد په توګه وټاکل شو، تر هغه وروسته ايران ته روان شو).56(

تر (1740) م کال وروسته د نادر د استبدادي دولت پرضد د افغانانو پرله پسې پاڅونونه ترسره کېږي، چې دا دی د نېټو او اوډون له مخې به يې ولولو:

د دويم څپرکي سرچينې:

.1لکهارت: انقراض سلسلهٔ صفويه، د ډاکټر اسميعل دولتشاهي ژباړه، تهران، 1344 ل کال، 369 مخ. نادرشاه: د مشفق همداني ژباړه، 1330ل کال چاپ، 40 � 44 مخونه.

.2جهانکشای نادري: 71- 72 مخونه. زندګاني نادرشاه: 46 � 47 مخونه.

.3زندګاني نادرشاه: 47 مخ. انقراض سلسلهٔ صفويه: 374مخ. نادرشاه: 43 مخ.

.4سفرنامهٔ سايکس: د حسين سعادت نوري ژباړه، دويم ټوك، 32 څپرکی، 1336 ل کال، چاپ، تهران.

.5لکهارت: انقراض سلسلهٔ صفويه، د دولتشاهي ژباړه، 37مخ. زندګاني نادرشاه: 48مخ.

.7 � .6انقراض سلسلهٔ صفويه، 374 � 376 مخونه. نادرشاه: 48- 58 مخونه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

.8هماغه اثر: هماغه مخ.

.9عالـم آرای نادري: لومړی ټوك، 234 مخ.

.10هماغه اثر: تر 235 مخ وروسته.

.11غبار: افغانستان در مسير تاريخ، 344 مخ.

13. � .12محمدكاظم: لومړی ټوك، 242- 247 مخونه.

.14محمد كاظم: لومړی ټوك، 260 مخ.

270 // // .15مخ.

276 � 272 // // .16مخونه.

.17غبار: افغانستان در مسيرتاريخ، 244 مخ.

19. � .18محمدكاظم: لومړی ټوك، 277 مخ.

.20محمدكاظم: لومړی ټوك، 278- 279 مخونه.

.21محمدكاظم: لومړی ټوك، 280 مخ. جهانكشای نادري: 154 مخ.

.22ميرزا مهدي خان استر آبادي: جهانكشای نادري، 155 مخ.

.23محمدكاظم: عالـم ارای نادري، لومړی ټوك، 282- 284 مخونه.

.24ميرزا مهدي خان استرآبادي: جهانكشای نادري، 155مخ.

.25محمدكاظم: لومړی ټوك، 293 مخ.

.26محمدكاظم: لومړی ټوك، 308 � 310 مخونه.

.27لكهارت: نادرشاه، 156 مخ.

.28گنداسنگ: درانی احمدشاه، د ا. ج. علومو اكاډمي، 1366ل كال، 18 مخ (د تاريخ سلطاني، 118 مخ. ميرزا مهدي خان ، 179 � 182 مخونو په حواله).

.29هماغه اثر: 157 مخ. دولت نادرشاه افشار: 167 مخ.

30. � .29گنداسنگ: درانی احمدشاه، د نصرالله سوبمن ژباړه، د ا. ج. علومو اكاډمي، 1366ل كال، 19 مخ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

.31د جهانكشاى نادري د ليكوال په وينا(287- 288- 297- 302- 304 مخونه) او د لكهارت په وينا:

د نادر ځواكونو چې د زميندآور د نيولو لپاره له ګرشك څخه ماموريت اخيستى و، هڅه كوله چې ډېر ژر د زميندآور كلا ونيسي او خلك اطاعت ته اړ كړي، خو د افغانانو له خوا له داسې مقاومت سره مخامخ شول چې د 1151هـ كال د ژمي تر پايه ونه توانېدل هغه سيمه په بشپړ ډول ونيسي، خو بُست او د هغه شا و خوا سيمې يـې يوازې د څو مياشتو لپاره ونيولې او هغه مالونه يـې كندهار ته ولېږدول، چې له خلكو څخه يـې اخيستي وو.(لكهارت: 161 مخ).

.32لكهارت: نادرشاه، 158- 159 مخونه.

.33دولت نادرشاهْ افشار: 167 مخ. ميرزامهدي خان: جهانكشاى نادري، 297- 309 مخونه. محمدكاظم: دويم ټوك، 86 مخ.

محمدكاظم د كندهار كلا په ستاينه كې وايي:

چو زد شاه جم قدر گردون وقار

سرا پرده بر دامن قندهار

يكي باره بر قُلهْ كوه ديد

ز مردم جهاني پر انبوه ديد

يكي قلعه چون طاق نيلي حصار

بر وجش سراسر شده استوار

رواق فلك طاق دروازه اش

در افاق افتاده آوازه اش

لب خندق و خاكريزش به هم

نهايات ملك وجود و عدم

بدامان وى كاَفت انيخته

فلك مشت خاكستري ريخته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ز رفعت بدان قلعهٔ دلنواز

فلك زير دست او مه سرفراز

سرکنړه ش بر فلك كرده راه

خراشيده زان روى خرشيد و ماه

درش بسته مانند قوس قزح

نمايان ز بالاش قوس و قدح

فلك سا لها گرد عالـم دويد

بنايى بداڼونه هرگز نديد

قلم گر كند وصف ان را رقم

قلم را كند بار دېر قلم

نکو قلعهٔ كوه پر از سڼ بود

به كوهٔ دماوند در جڼ بود

�سر خاكريزش بر افلاك بود

برش آسمان تودهٔ خاك بود.

)محمد كاظم: دويم ټوك، 83 � 84 مخونه(

.34دولت نادرشاه افشار: 167- 168 مخونه.

.35لكهارت: هماغه اثر، 159- 162 مخونه.

.36هماغه اثر: 162 مخ.

.37دولت نادرشاه افشار:267 مخ.

.38هماغه اثر: 270 مخ. جهانكشاى نادري: تر 300 مخ وروسته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

39.لکهارت: نادرشاه، 164 مخ.

40.دولت نادرشاه افشار: 270 مخ. د محمدکاظم له دویم ټوك، 176 مخ سره دې پرتله شي.

41.لکهارت: نادرشاه، 170 مخ.

42.گنداسنگ: درانی احمدشاه، د علومو اکاډمي چاپ، 1366ل کال، 24 مخ (د تاریخ حسین شاهي 9- 10 مخونه. تاریخ سلطاني: 121 مخ، صولت افغاني: 341 مخ، لکهارت: نادرشاه، 170 مخ، محمدکاظم: دویم ټوك، 178 مخ په حواله).

43.دولت نادرشاه افشار: 270 مخ.

44.میرزا مهدي خان: جهانکشای نادري، 304 � 310 مخونه. محمدکاظم: دویم ټوك، 188 � 189 مخونه.

45.محمدکاظم: نامه عالـم آرای نادري، دویم ټوك، 202- 208 مخونه.

47. � .46دولت نادرشاه افشار: 270 مخ.

48.میلیسون: د افغانستان تاریخ، پښتو ژباړه، منشي احمدجان، پېښور چاپ، 1930 م کال، 248 مخ.

49.محمدشفیع تهراني: تاریخ نادرشاه، 34- 44 مخونه. لکهارت: 171مخ.

50.محمدکاظم: نامه عالـم آرای نادري، مسکو چاپ، 1966 م کال، درېیم ټوك، 220 مخ.

51.بیان واقع در احوال نادرشاه: عبدالکریم ابن خواجه عاقبت کشمیري، د ډاکټر کي، بي نسیم په سمون، د پنجاب پوهنتون چاپ، لاهور، 1970م کال، 35 مخ.

52.محمدکاظم: دویم ټوك، 212- 213 مخونه.

54. � .53هماغه اثر: 221- 224 مخونه.

55.هماغه اثر: 260 مخ.

56.هماغه اثر: 269 مخ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریم څپرکی (د نادر افشار پرضد د افغانانو پاڅونونه)

-:1د کابل رود په سرچینو ()کې د پښتنو پاڅونونه:

په 1740م کال د نادر له خوا د هند تر فتحې او بخارا ته تر ورننوتلو وروسته هغه پښتانه چې د کابل رود په سرچینو کې يې ژوند کاوه، د پرديو د چپاو پرضد رااوچت شول او د پاڅون دا بيرغ د سپينغره په لمن کې د مېشت عاشق خان غلزي له خوا اوچت کړل شو، که څه هم د نادر کينه گرو ځواکونو د طهماسب قليخان جلاير په مشرۍ دا پاڅون وځاپه، خو د پاڅون مشرتابه مخکې له دې چې ځان د دښمن په لاس اسير ووينې، په خنجر يې خپل ټټر وواهه او په مېړانه يې مړينه ومنله.

د عاشق خان له پاڅون سره جوخت يوسفزي قوم هم د محمدکاظم په وينا: "څه نا څه د خيبر، پېښور او اټك رود په سواحلو کې مېشتو نهه سوو افغان کورنيو هم پاڅون وکړ، د نادرافشار دربار د پېښو ليکونکي په وينا: [هغوی له پلرونو او نيکونو رانيولې تر اوسه پورې د چا پلوي او اطاعت نه و منلی، پر سينه يې يوازې د فرمانروايۍ او مشرتوب دعوه واکمنه وه]". د نادر ځواکونو د عاشقخان په مشرۍ د پاڅون کوونکو تر ځپلو او لوټلو وروسته پر گندمگ بريد وکړ. د هغه ځای واکمن مقربخان خپلې گټې په خطر کې ليدې، د خپلو گټو د ساتنې او د دښمن د خوښۍ په موخه يې دښمن ته خبر ورکړ، چې د يوسفزيو د پاڅون مشر محمدعلي خان دی او پاڅون کوونکي قومونه د اټك رود په ښي (راسته) ساحل (نوښار) کې استوگن دي.

د نادر د ځگواکونو مشر د خيبر واکمن مقربخان موظف کړ چې خپل قومونه وپالي، خواړه او واښه ورته برابر کړي او خپله دی د خپلو ځواکونو په ملتيا د محمدعلي خان د ځپلو لپاره دوی ته لار وښيي.

په لنډه موده کې پر اټك رود، پول وتړل شو او د نادر ځواکونه وربانديې واوښتل. محمدعليخان د دښمن د شړلو لپاره د خپل پلرني ټاټوبي له جنگياليو قومونو څخه څلوېښت زره تنه برابر کړل او په شېردره نومي ځای کې د ښکېلو غاړو ترمنځ درې خونړۍ جگړې ونښتې، خو دښمن کوم مهم بری ترلاسه نه کړ، محمدعليخان چې خپله يې هم په جگړو کې گډون درلود، پر اوږه ټپي شو او څه موده يې له جگړې لاس واخيست.)2(

خو د نادر ځواکونه به هر وخت د پاڅون کوونکو قبيلو له بريدونو سره مخامخېدل او تلفات به ور رسېدل، دښمن شاتگ ته اړ شو او غوښتل يې کابل ته ستون شي، خو جنگياليو لاره وربانديې بنده کړې وه، طهماسب قليخان اړ شو، پوځ په يوه خرابه کلا کې پټ کړي او تر هغه مهاله تم شي. چې د ستنېدو خوندي لار پيدا کړي. نو خپل ځينې پوځيان يې د اټك د شا و خوا سيمو پر لوټونې او چپاو مامور کړل. هغوی هم په وحشتناکو وژنو او ترور سره د خلکو ډېر مالونه، غنيمتونه او اسيران خپل استوگنځي ته راوړل. په اسيرانو کې يو تن حاضر شو چې طهماسب ته د "ميان برشبانه" لار چې په شنه دره کې د يوسفزيو د يوه گڼ او لس زره کسيز کورني قوم له منځه تېرېده، وښيي، ددې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسیر سړي د خیانت له کبله دښمنو پوځونو د شپې په پټه دريّ ته ودانګل او د لمرختو پر وخت یې پر کوچیو یوسفزیو یرغل وکړ.

دا کوچیان چې جګړې ته یې تیاری نه درلود، وارخطا شول، ځینې یې وتښتېدل او ډېر نور یې ووژل شول. د محمدکاظم په وینا: طهماسب قلیخان د هغو بېګناوو خلکو عامه وژنه اعلان کړه او یرغلګرو تر مازیګره له شلو زرو تنو زیات ماشومان، ښځې، سپینږیري او ځوانان له تېغه تېر کړل او دښمن ته ډېر مالونه او غنیمتونه هم په لاس ورغلل).3(

دا برې د دښمنانو د بېباکۍ سبب شو، ځینې پوځیان هماغه شپه د یوه بل اسیر په لارښوونه له غره څخه واوښتل او د غره تر شا یې پر غرمېشتو یوسفزیو چې پنځه � شپږ زره تنه کېدل یرغل وکړ او له دوی سره یې هم د مخکېنۍ ورځې چلند وکړ، د عالـم ارای نادري د لیکوال محمدکاظم په وینا: د غرمېشتو خلکو مالونه اوشته تالا او "د هغه قوم ډېر بارونه، مالونه او خېمې لوټ شوې).″4(

د یوسفزیو د پاځون لمن پراخه وه او طهماسب قلیخان نه شول کولای په لنډه موده کې ټول پاځون وځپي، نو له ناچارۍ څخه یې نادرشاه ته چې د داغستان د فتحې لپاره جګړې ته روان و، لیك ولېږه او په هغه کې یې اشاره کړې وه چې:"د اټك ټولو افغان قومونو مخالفت ته ملا تړلې او له دې شرارت څخه لاس نه اخلي).″5(

نادر د پاځون د ځپلو لپاره له اذربایجان څخه د امیراصلان قرخلو په مشرۍ یو مرستندوی پوځ ورولېږه، چې د فارس او بلوچستان له لارې کابل ته ننوځي او د پاتې نور پوځ په ملتیا پر پاځون کوونکو برید وکړي.

څکه په 1743 � 1155هـ کال د نادر له کینه ګرو ځواکونو سره د اذربایجان د امیراصلان قرخلو هوسا پوځونه هم د اټك د شا و خوا مېشتو قومونو د ځپلو لپاره روان شول، امیراصلان د هماغه کال په حرم میاشت کې د نادر د لښکر له نورو خانانو لکه: فتح علیخان کیاني، مظفرعلیخان، توکل خان بیات، نظر علي بېګ سره کوهاټ ته ننوتل، د کوهاټ د پاځون کوونکو مشران محبتخان او سردار خان یوسفزي وو. دښمن ځواکونو محبتخان ته یو لیك ولیکه، چې له جګړې پرته تسلیم شي. محبتخان په ظاهره تسلیمي او د سردارخان یوسفزي اطاعت څرګند کړ، دښمن پوځونه هم د سردارخان سیمې ته ننوتل، خو تر ننوتو وړاندې یې پر لاره پرتې سیمې وراني او لوټ کړې.

محمدکاظم لیکي: "پرنات" نومې سیمه بشپړه لوټ کړل شوه او دښمن (نادر پوځ) ته 200 � 300 زره پسونه، خره، اسونه او اوښان له نورو اسیرانو او ګڼ شمېر نورو غنیمتونو سره لاسته ورغلل).6(

کله چې طهماسب قلیخان د سردارخان کلا نیم فرسخۍ ته ورسېد، نو سردارخان یې د لیك له لارې له قید و شرط پرته اطاعت ته راوباله، سردارخان ځواب ورکړ: "د ایران پاچا نادر هم دې سیمې ته راغلی و، خو له کومې لاسته راوړنې پرته بېرته ستون شو، ته د هغه د درګاه یو ټیټ نوکر یې، هرڅه دې چې له لاسه کېږي کوه یې).″7(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ځواب د طهماسب پر سر د سوك يو ګوزار و، خپل څه پوځ يې پر سردارخان کلا بريد ته چمتو کړ، خو نه پوهېده د خپل پوځ پر کومې ډلې مخکې د بريد امر وکړي.

بايد يادونه وشي چې محبتخان او عصمت الله خان له خپلو ځواکونو سره له بلې لارې سردارخان کلا ته ځانونه رسولي وو او جګړې ته چمتو شوي وو.

لومړنی سرلښکر چې پر سردارخان کلا باندې بريد ته چمتو شوی و، کلا ته تر رسېدو مخکې پر ځمکه راوپرځول شو. سردارخان کلا په ښېساري مقاومت له ځانه دفاع کوله، خو د غاړو ځواکونه د پرتلې نه وو، د دښمن توپونو او خمپارو د پاڅون کوونکو د پرځولو او د کلا د ورانولو لپاره په ډېره توندۍ فعاليت کاوه، په وروستيو ورځو کې د نادر ازمويل شويو او جګړوځپلو پوځونو په يو هراړخيز بريد کې د درنو تلفاتو په منلو دکلا يو برج چې تر نورو برجونو ځواکمن و، ونيو. دښمن کلا ونيوله، خو د کلا اوسېدونکو په ډېره زړورتيا تر وروستي بريده له ځانه دفاع کوله، دښمنانو چې د کلا په نيولو کې يې ښېساري تلفات ليدلي وو، د ښرمښانو په شان د کلا پر اوسېدونکو ور ودانګل، د ښځو، ماشومانو، سړو او آن سپيو او نورو ځارويو له وژنې څخه يې ډډه ونه کړه.

د عالم آرای نادري د ليکوال په وينا: "ميراصلان د هغې کلا ښځې، سړي له الوتونکو او نورو حيوانانو سره له تېرو تورو تېر کړل او له سهاره يې تر مازيګره داسې عامه وژنه وکړه، چې د سړو او حيواناتو په ګډون په کلا کې هېڅوك ژوندی پاتې نه شول، بلکه ورځ يې ټوله کلا ولټوله او د هغې ټول څيزونه يې چې له شماره وتلي وو د ځان کړل)."8(

د پاڅون مشران هم د نورو پاڅون کوونکو په شان د مرګ ترحده وجنګېدل او د مېړانې مرګ يې د اسارت تر ژوند غوره وباله.

د نادر ځواکونو په کوهاټ کې د محبتخان، سردارخان او عصمت الله خان يوسفزي په مشرۍ د پاڅون تر ځپلو وروسته د هغه پاڅون کرارولو ته روان شو، چې د (شاه بزرګخان) په مشرۍ روان و. د محمدکاظم په وينا: د شاه بزرګخان په مشرۍ د يوسفزيو ددې لوی پاڅون د ګډونوالو شمېر څلوېښتو زرو تنو ته رسېده.

د دواړو غاړو ترمنځ سختې جګړې ونښتې، خو ددښمن جګړه ييز مهارت، توپخانې او نورې وسلې د قومي جنګياليو تر وسلو ښې وې، دېوالي (حصاري) جګړې پيل شوې، شاه بزرګخان کلا هم د کوهاټ د سردارخان کلا پر برخليك اخته شوه، خو مخکې له دې چې د کلا اوسېدونکي د دښمن له خوا ووژل شي، شاه بزرګ تسليم شو او دښمن ته يې (دوه لکه تومانه چې هر لك يې سل زره تومانه دی). جريمه ورکړه او له خپلو ملکي خلکو څخه يې سل زره تومانه راټول کړل او د نادر پوځ مشرانو ته يې ورکړل. په دې توګه يې نه يوازې ځان او نور ملکي کسان له وژنې وژغورل، بلکې د سيمې مشري او حکومت يې هم ترلاسه کړ).9(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته له دې چې نادر پوځ د ډېره غازيخان او ډېره اسمعيلخان شنو درو ته روان شو، د هغو سيمو مشرانو هم تسليمي غوره وګڼله او له مړينې يې ځانونه خلاص کړل.

محمد کاظم، د ډېره اسمعيلخان او ډېره غازيخان په ستاينه کې وايي:

ددې درو ترمنځ ورشوګانې وې، چې د پاچايانو د ودانيو فضا او د ارم ګلبڼ ته ورته وې، په هغه شنه سيمه کې حيرانوونکي مرغان ډېر وو، خو په هره برخه کې يې تاووس مرغه ډېر ليدل کېده، څو ورځې يې په هغو ورشوګانو کې تېرې کړې او له هغه ځايه بيا غازيخان او اسمعيلخان ډېرو ته ننوتل او د هغو سيمو سرشته يې پياوړې کړه).10(

-:2د بلخ، اندخوی او بدخشان پاڅونونه:

د 1153 هـ کال د جمادي الاول په اوومه نېټه نادر پوځونه د رضا قلي ميرزا تر مشرۍ لاندې د ماروچاق، چيکچکتو او اندخوی له لارې بلخ ته روان شول او د هغه ښار يو فرسخۍ (قوشخانې) ته ورسېګدل او نيازخان قوش بېګي يې د بلخ د والي په توګه وټاکه او د خان په لقب يې سرلوړی کړ).11(

يو کال وروسته د 1742م (1154 هـ. ق) کال په منې کې په بلخ او اندخوی کې د يوه نوموړکي (ګمنام) سړي په مشرۍ چې په ظاهره يې د ملنګانو جامې وې، يو بل پراخ پاڅون پيل شو.

د محمدکاظم په وينا " دې سړي د امامت، معجزې او کراماتو دعوه کوله، په لنډه موده کې يې د بلخ او اندخوی په ترکانو او تاجکانو کې ډېر پلويان پيدا کړل او خپل يو پلوی عصمت الله ازبك يې د افشاري پوځيانو پرضد وهڅاوه، عصمت الله خان ازبك هم ډېر زر پنځوس � شپېته زره قبچاق، د بلخ او سرپول خلك راټول کړل او د بلخ پر حاکم يې ورودانګل.

د بلخ حاکم (نيازخان) هڅه وکړه دا پاڅون وځپي، خو پوځ يې مات شو او په دې توګه پاڅون نوره پراختيا هم ومونده. له نادري پوځ څخه کرکه دومره ډېره وه چې پاڅون کوونکو به د شاه کارکوونکي، قزلباش او يا هم هغه خراساني خلك چې د حاکم دفاع به يې کوله، نيول او وژل به يې. د بلخ حاکم د ارګ د کلا دروازه په ځان پسې وتړله او د نادر مرستو ته په تمه کښېناست، د نادر ځواکونه له پاموړ توپخانې سره بلخ ښار ته راننووتل او د پاڅون کوونکو پر وژنې او ماتونې يې لاس پورې کړ .

عصمت الله خان ازبك په يوه جګړه کې ووژل شو او د هغه تر مړينې وروسته، درويشخان او د پاڅون کوونکو نور مشران ونيول شول او ووژل شول).12(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلواکۍ غوښتونکی غورځنګ په وینو کې ډوب شو. محمدکاظم په تاریخ عالـم آرای نادري کې وايي: د نادر یرغلګرو ځواکونو تر بلخ ښار دباندې د بلخ او سنچارك د قبچاقو قبیلو د مړو له سرونو داسې منار جوړ کړ، چې په رښتیا هم ډېر وېرووونکی و. نادر د کوچیو قبچاقو قبیلو تر لوټونې وروسته د سانچارك طایفې د (6500) تنو مړو له سرونو یو کله منار جوړ کړ.

د محمدکاظم په وینا: "د سرونو د دې منار لوړوالی پنځلس ګزه او سور (عرض) یـې اووه ګزه وو، چې په هره دوره کې یـې (څـګرنـګګه چې خپله محمدکاظم شمېرلي) د انسانانو یو سل او اتیا سرونه اوډل شوي وو)"�13(

د نادر په غوښتنه ټولوژنو په خلکو کې، د اطاعت پر ځای دښمنانه کرکه، غوسه او یووالی وروزه.

ډېره موده نه وه اوښتې چې په (1745) م کال په بلخ کې یو بل پاڅون پیل شو، چې د بلخ د والي ورور مشتاق بېګ یـې مشري کوله، د بدخشان حاکم میرزانباتخان او ارال میرزاقلخان ازبك هم ورسره یو شوي وو، د نادر پوځونو د سیمې د فیوډالانو په مرسته دا پاڅون وځاپه).14(

باید ووایو چې د پاڅونونو کمزورۍ ډلبندۍ، د یوه داسې مشر نشتوالي چې د خلکو پر ګټه په پرله پسې ډول مبارزه وکړي، په پاڅونونو کې کورنیو تضادونو او د فیوډالانو خیانتونو ټولو په ګډه مخکې له مخکې ددې پاڅونونو برخلیك ټاکه.

په دې توګه، د بلخ پاڅون د ماتې لوی لامل د دښمن له خوا د مشاق بېګ په تمه کول، د بدخشان او خان ارال د پاڅون کوونکو ترمنځ د وړ ارتباط نشت، د کندوز د فیوډالانو مخالفتونو د بدخشان او ارال له فیوډالانو سره د هزاره خان ازبك مخالفت، د شاه ځواکونو ته د پاڅون کوونکو د لوړ قشر تسلیمېدنې او یو کېدنې د پاڅون ځپل ګرندي کړل، څـګرنـګګه چې مخکې مو یادونه وکړه، ددغو پاڅونونو لوی علت، د فیوډالانو د ګټه اوچتونې تشدد او له خلکو څخه په زوره د مالیاتو اخیستل وو، چې په زوره ورڅخه اخیستل کېدل. له پاڅونونو څخه د خلکو موخه د شاه د ظلمونو او د مالیاتي ستم کموالی و، په داسې حال کې چې په کرګري پاڅونونو کې د ځینو فیوډالانو ګډون، د نادرشاه له ځمکني سیاست څخه د دوی د نارضایتي او د دوی د سیاسي نفوذ او اقتصادي وضعې د ښه کولو څرګندوی و. څـګرنـګګه چې په پاڅون کې د دې دوو متضادو ډلو هدفونو توپیر درلود، نو د پاڅون لوړ مشر چې د دود په څېر به یـې د پاڅون مشري پرغاړه لرله، له پاڅون کوونکو سره خیانت کاوه، یا به یـې له شاه، یا د هغه له استازو سره جوړ جاړی کاوه.

نادر به د پاڅون کوونکو د لا ځپلو لپاره د پاڅون تر ځپلو وروسته د پاڅون کوونکو پر سیمو ډېر مالیات وضعه کول.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه په 1746م (1159هـ. ق) کال چې یې د بلخ او اندخوی پر خلکو ملاماتوونکي ماليات وټاکل. د محمدکاظم (د درېیم ټوك 368 مخ) په وينا: "څګرنګګه چې د واکمن سوچ او خيال له ايرانيانو واوښت او لوټونې او وژنې يې پيل کړې، نو د (بلخ او جوزجان) پر اويماق قوم يې دوه زره وټاکل."

"د بلخ او اندخوی اوسېدونکو خپل ټول مالونه خرڅ کړل، يو سل او اويا زره (د شپږو سوو او پنځوسو زرو تبرېزي تومانو انډول) يې دربار ته وسپاره، څګرنګګه چې نور يې يو دينار هم نه درلود، چې د نادر دربار ته يې ولېږي، نو اړ شول چې ليريو غرونو ته وتښتي او د نادر د پوځونو له شره خپل ماشومان خوندي کړي)"15(

په 1160هـ � 1747م کال بيا هم د بلخ، جوزجان او کندوز خلکو پاڅون وکړ او د شاه پرضد اوچت شول، ددې پاڅون مشران موسى خواجه ازبك، د کندوز پخوانی حاکم هزاره خان ازبك او استانقل قبچاق وو. هغوی بلخ ونيو او د نادر پوځ يې دړې وړې کړ.

بهبودخان د نادر د درباري پېښوليکونکي محمدکاظم په ملګرتيا له ماوراالنهرڅخه له يو پوځ سره د پاڅون د ځپلو لپاره مامور شو. خو له ماتې پرته يې بل څه ونه موندل. د بلخ پنځه لس زرو ترکانو او تاجکانو په ټينګه دفاع وکړه او دښمن يې ښار ته پرې نه ښود. بهبودخان له ناچارۍ ميمنې او بادغيس ته مخه کړه. د موسى خواجه ازبك پنځه لس زره کسيز پوځ، دښمن تر سر پول پورې وڅاره او تر هغه وروسته قبچاقو او د ترکمن ايرساري قومونو د دښمن ځارنه پر غاړه واخيسته او بهبودخان يې د درنو تلفاتو په ورکولو سره د اندخوی له پولو ها خوا وشاړه).16(

-:3د هرات، بادغيس او غور پاڅونونه:

د عالم آرای نادري ليکوال کاږي: " د خزانې د مامورينو له خوا د خلکو سپکاوی او له هغوی سره توند چلند ددې سيمې د بېلابېلو قومونو د پاڅون لامل شو. لومړی شاديخان جمشېدي له خپلو شپږو زرو کسانو سره د بلخ او اندخوی پر واکمن ورودانګل او وروسته په هماغه کال کې 1159هـ درويش عليخان هزاره د بادغيس، هرات، غور، اندخوی، چار او اويماقو قومونو له دېرشو زرو تنو سره پر پاڅون لاس پورې کړ او د بلخ والي ګدايخان او مهديخان ديوان بېګي ته يې وليکل: "پر دې مهال پاچا د خلکو په مالي ځورونې عادت شوی، ډېر ايرانيان ورڅخه خوابدي شوي، هغه دواړه بايد له موږ سره هملاسي او يو شي". والي او مهديخان د هغه د کسانو پزې او غوږونه پرې کړل او ور ويې لېږل. درويش عليخان د ګدايخان دې سپکاوي ته په پام سره، له دېرشو زرو اويماق کسانو سره بلخ ته ننووت او لس ورځې يې د ښار ټول چاپېر ديوالونه په محاصره کې وساتل او د ټولو ډلو مالونه، اسباب او نور توکي يې تالا او خلك يې ووژل)."17(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

درویش علیخان به چې په دې برید کې هرځای د شاه یا نادر د پلویانو کوم سړی یا کارکوونکی ولید، نو واژه یا به يې اسیراوه او مالونه به يې ورځخه اخیستل. دا پاځون دومره اوږد شو چې د بلخ والي د پاځون کوونکو د ځپلو له کبله ځان کمزوری ولید او د نادر دربار ته په شکایت کولو اړ شو. نادرشاه هم محمدرضاخان قرخلو ته چې د سیستان د پاځون کوونکو تر ځپلو وروسته نوی هرات ته راغلی و، د جمشېدي، چار او اویماقو قومونو د پاځون ځپلو دنده ورکړه، محمدرضاخان چې ځان يې د پاځون کوونکو په وړاندې کمزوری او د ناکامۍ په صورت کې د نادر له سپکاوي سره مخامخ لیده، نو له ناچاریه د هرات د چار او اویماقو قومونو له پاځون سره یو شو).18(

نادر د خپل حکومت په وروستیو کلونو کې د خپلې واکمنۍ د بېلابېلو سیمو د مېشتو خلکو د پرله پسې پاڅونونو له کبله خپل اعصاب له لاسه ورکړي وو، نو د خپل دولت ټینګښت ته يې یوه لار لیده، چې هغه ډله ییزې وژنې، د یادګاري کله منارونو جوړول او د هغه د فیوډالي دولت ظلمونه وو.

میرزا مهدي او محمدکاظم یادونه کوي چې نادرشاه په 1747م کال، کله چې له اصفهانه خراسان ته راستنېده، نو په خپل هر ښار، کلي او کرونده کې به يې د مړو انسانانو له سرونو یادګاري منارونه جوړول، چې د سیمو د مېشتو خلکو په زړونو کې وېره رامنځته کړي).19(

د 1749م کال په اوږدو او د 1747 دا په لومړۍ نیمایي کې په منځنۍ اسیا کې د نادر واکمني د خلکو له سخت جوش او خروش څخه ډکه وه او په قزاقو، ازبکو او قزاقلپاقو خلکو کې د ازادۍ لپاره پاځون جوړ شو، چې دوی هم په ډېره بېرحمۍ سره وځپل شول. هغو وژنو، لوټونو او ورانیو چې د پاځون له ځپلو سره به ملې وې، د پاځون کوونکو سیمو پر اقتصادي وضعې ډېرې بدې اغېزې ښندلې. پاځون ځپونکو به کرنې او نورو تولیدي واحدونو ته سخت زیانونه اړول چې څو نور کلونه به هم د رغېدو نه وو، په دې توګه به تولیدي او کرنیز واحدونه د شاه او سیمه ییزو فیوډالانو د سختو مالیاتي فشارونو له کبله ډېر کمزوري کېدل او خلك دېته اړ کېدل چې د مالیاتو ورکولو لپاره خپل کورونه وپلوري. ځکه، مالیاتو اخیستونکو به د نادر په لاښوونه پاتې مالیات (تر وروستي دیناره) په زور او شکنجو اخیستل. که چېرې به داسې نه کېدل، نو په هماغه انډول به مالیات د خزانې له کارکوونکو څخه اخیستل کېدل).20(

د اتلسمې پېړۍ په پنځمه لسیزه کې د فیوډالي ګټو اوچتونو بېشمېره تشدد، د نادر دولت د سختې اقتصادي پاشلتیا کندې ته ورټېل واهه او د فیوډالي طبقې د سختو طبقاتي او کورنیو تضادونو لامل شو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

-:4 د سیستان پاڅون:

د نادر د فیوډالي دولت د ظلمونو پرضد تر ټولو لوی پاڅون د 1746 � 1747م (1159- 1160هـ) کلونو په بهیر کې د سیستان پاڅون و، چې د 1746م کال د دوبي په لومړیو کې پیل شو.

ددې پاڅون لامل هم د درنو مالیاتو اخیستل وو. د مللك محمود سیستاني زوی فتح علیخان کیاني د پاڅون مشري پر غاړه لرله. فتح علیخان چې د کندهار، کابل، خیبر درې او هندوستان په فتحو کې یې د نادر پر ګټه ستر خدمتونه کړي وو، له هندوستانه په راستنېدو د سیستان پر مشرۍ وټاکل شو.

فتح علیخان د 1158هـ.[د 1745/ 1746م کال په ژمي کې] د نادر له خوا یو لیك ترلاسه کړ چې نادر د هغه په ترڅ کې ورڅخه ډېر مالیات غوښتي وو.

فتح علیخان د مالیاتو اخیستونکو په واسطه پر خلکو زور راوړ، چې دا شمېر پوره کړي. خــو دا شمېر د هغه اندېول پرووړاندې چې شاه غوښتی و، ډېر لږ و، په دې ترڅ کې سلطنتي مالیاتو اخیستونکو نادر ته ګزارش ورکړ چې فتح علیخان په لوی لاس ډېر مالیات نه راټولول.(21)

حال دا چې خپله مالیاتو اخیستونکو ډېره برخه مالیات چې په بېلابېلو ډولونو یـې له خلکو راټول کړي وو، خپلو جېبونو ته اچولي وو. نادر په دې خبرې تر پوهېدو وروسته امر وکړ چې مالیات اخیستونکي دې اعدام کړل شي او تر هغه وروسته یـې سیستان ته نوي کارکوونکي ولېږل او هغوی ته یـې لارښوونه وکړه چې یوځل بیا د یو ملیونو تومانو په شا و خوا کې له خلکو مالیات راټول کړي. فتح علیخان ته یې هم ګ واښ وکړ چې په مالیاتو ټولونه کې ډېره هڅه وکړي او له مالیاتو سره مل دربار ته راشي. فتح علیخان او د سیستان خلکو چې ولیدل د دومره مالیاتو ورکولو توان نه لري، نو پر پاڅون یـې لاس پورې کړ.(22)

په پیل کې (له ټولو پوړونو) شلو زرو تنو په پاڅون کې ګډون وکړ(23). د سیستان پر خلکو سربېره ډېر بلوڅان هم له پاڅون کوونکو سره مل شول، په دې بهیر کې اورېدل کېدل چې د کندهار او کابل خلك هم د پاڅون خیال لري، اوضاع په پیل کې د پاڅون کوونکو له غوښتنو سره سمه مخکې تله او فتح علیخان د نادر یو کاروان چې له هندوستان څخه راته لوټ کړ او تر هغه وروسته یـې پر (بم) یو بریمن برید وکړ او ویې نیوه. فتح علیخان ددې بري او پاڅون کوونکو د زیاتوالي له کبله چې ورسره یو کېدل، په دې سوچ کې شو، چې ځان د سیستان د خپلواك حاکم په توګه اعلان کړي.(24)

نو خپل لیکونه یـې فراه، فیروزکوه او نورو ګاونډیو سیمو ته ولېږل او هغوی یـې له مالیاتو اخیستونکو څخه سرغړونې ته راوبلل.(25)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه دېرش کسيز پوځ چې د نادر له خوا د پاځگون کوونکو د ځپلو لپاره لېږل شوی و، د پاڅون کوونکو له خوا دړې وړې شو، د پاڅون توندوالي نادر دېته اړ وېست چې سيستان ته نوي ځواکونه ولېږي. د 1746م کال په مني (خزان) کې محمدرضاخان د نادر د پوځ په ملتيا پاڅون کوونکو ته سخته ماتې ورکړه او فتح عليخان يې هم په اسارت ونيو).26(

د نادر د دربار پېښليکوال محمدکاظم د پاڅون کوونکو ماتې د فتح عليخان او د پاڅون کوونکو د يو بل ځواکمن او زړور مشر ميرسيف الدين ترمنځ د نظر اختلاف گڼي، چې اخر په پاڅون کې د دواړو رقيبو مشرانو پر مړينې پايته ورسېد. هغه ليکي: تر هغه مهاله چې د جگړو برى د پاڅون کوونکو و، فتح عليخان له خپلې يوې ډلې سره د فراه په ډگر کې له جگړې لاس واخيست او سيستان ته روان شو.

ميرسيف الدين په داسې حال کې چې د پاڅون کوونکو ځواك کمزوری شوی و، د نادر له ځواکونو سره خپلې مبارزې ته دوام ورکړ او په دې توگه د جگړې په ډگر کې په مېړانه ومړ. پاڅون کوونکو چې خپل مشر يې له لاسه ورکړی و، له مقاومته لاس واخيست او سره بېل شول.

دې پېښې د نادر ځواکونو ته وخت ورکړ چې نامنظمو پاڅون کوونکو ته سخت گوزارونه ورکړي او فتح عليخان ونيسي).27(

فتح عليخان د 1746م کال په اکتوبر مياشت کې نادر ته ولېږل شو او د نادر په امر يې سترگې وايستل شوې).28(

خو پر پاڅون کوونکو د محمدرضا برى بشپړ شوی نه و، ځکه ډېر هغه بلوڅ او سيستاني پاڅون کوونکي چې ژوندي پاتې وو، د فتح عليخان د يوه فرمان ورکوونکي ميرکوچك تر مشرۍ لاندې راغلل او ميرکوچك هم هغوى د (خواجه غره) کوه خواجه، لرغونې گارې "درز" پر لورې چې يوه پياوړې گاره او د هامون د لويديځ د پاى په لوړه څوکه کې وه، وبلل).29(

نادر سم له لاسه خپل وراره علي قليخان او طهماسب خان جلاير ته د پاڅون کوونکو او تر ټولو لومړى د ميرکوچك د ځپلو دنده ورکړه.

خو د خلکو ځپل او اېلول ناشونى کار و، هغو خلکو چې د ملاماتوونکو باجونو او خراجونو له کبله نېستمن شوي وو، د نادر د لېږل شويو پوځونو پرضد سخت مقاومت وکړ. پاڅون کوونکو اعلان وکړ چې د شاه د پوځونو په واسطه تر نيول کېدو مړينې ته ترجيح ورکوي.

د شاه د پوځونو په رانژدې کېدو سره خلکو خپل خواړه او نور توکي په خاورو کې پټول او خپله هم د خواجه نومي غره په لويو گارو يا نيزارونو کې پټېدل.

په دې توگه به پاڅون نوره پراختيا او ځواك هم مونده).30(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمدکاظم لیکي: کله چې علي قلیخان د پاڅون د ځپلو لپاره سیستان ته راغی، نو د ورانۍ له وحشتناکې منظرې، تشو کلیو او خالي ښار سره مخامخ شو).31(

هماغه مهال هره ورځ د نادر د وژنو، بېرحمیو او وحشتناکو هڅو خبرونه اورېدل کېدل، د ځینو افشاري خانانو او د شاه د ځینو خپلوانو لکه: (امام قلیخان، محمدعلیخان، قاسمخان افشار او نورو�) د ړندولو او وژلو خبرونه هم اورېدل کېدل).32(

د (دولت نادر شاه افشار) کتاب لیکوالان ادعا لري چې د سیستان ځینو اوسېدونکو له پاڅون کوونکو سره خیانت وکړ، له علي قلیخان سره یې د زرو تنو پاڅون کوونکو د نیولو او د بري ګټلو په برخه کې مرسته وکړه. خو په وروستیو ټولو جګړو کې د علي قلیخان پوځونو ماتې وخوړه او ځینې پوځیان یې د پاڅون کوونکو خوا ته وتښتېدل).33(

پر همدې مهال خبر راغی چې نادرشاه د علي قلیخان د وړور ابراهیمخان ټول مالونه لېږدولي او امر یې کړی چې علي قلیخان دې د ماتې په بدل کې سل زره تومانه او طهماسب قلیخان جلایر دې هم د شاه خزانې ته پنځوس زره تومانه ورکړي.

علي قلیخان ددې فرمان تر موندو وروسته پوهېده، چې د پاڅون ځپل او د سیستان له خلکو په دې کچ د مالیاتو اخیستنه یو ناشونی کار دی، نو له دې کبله له پاڅون کوونکو سره یو شو. ډېرو خلکو چې د شاه د پوځونو او د مالیاتو اخیستونکو له وېرې غرونو، نیزارونو او سمڅو ته پناه وړې وه، بېرته خپلو پخوانیو استوګنځیو ته راستانه شول).34(

خو طهماسب خان، سره له دې چې د پنځوسو زرو تومانو مالیاتو (جریمې) په ورکولو موظف شوی و، بیا هم نادر ته وفادار پاتې شو او په دې هڅه کې شو چې علي قلیخان د سیستان له پاڅون کوونکو سره له یووالي راوګرځوي، څرنګگه چې علي قلیخان د هغه له لاربښوونې سرغړونه وکړه، نو طهماسب هم د هغه په اړه د نادر له خوا د اعدام صادر شوی فرمان وروښود. علي قلیخان هم طهماسب ته د نادر په لاسلیك د وژلو فرمان وښود، که څه هم طهماسب د دې فرمان په کتو یو څه اغېزمن (متأثر) شو، خو بیا هم نادر ته وفادار ملګری پاتې شو.

د نادر پرضد د علي قلیخان لومړنی اقدام دا و چې له خپل ځواکمن حریف میرکوچك سره یې روغه وکړه او د نادر پرضد هغې وېرې چې د نادر له لوري هره خوا خپره شوې وه، د سیستان، بلوچستان، هرات، بادغیس، بلخ، اندخوی، ننګرهار، کابل او نورو سیمو قومونه پاڅون او ښوګرښ ته وهڅول).35(

کله چې په خراسان کې د علي قلیخان د پاڅون خبر خپور شو، نو د هرځای د استازو او فیوډالانو لیکونه ورته سیستان ته راتلل او د هغه له پاڅون سره یې د یووالي چمتووالی ښوده، علي قلیخان ورو � ورو د نادر د تخت او تاج د نیولو په سوچ کې شو، علي قلیخان د (1747)م کال د اپرېل په شپږمه [1160هـ کال د ربیع الثاني په 15 مه] له ډېرو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواکونو سره له سیستانه هرات ته راغی. د هغه ځای ډېر قبایلي مشران ورته راغلل او خپل ملاتړ او د مرستو ژمنې یې ورته اعلان کړې، دلته طهماسب خان یو ځل بیا هڅه وکړه چې د نادر پرضد علي قلیخان له هر اقدامه راوګرځوي. خو علي قليخان نه یوازې د هغه لارښوونو ته غوږ ونه نیوه، بلکې هغه ته یې زهر ورکړل او وېې واژه).36(

د روسیې سفیر شازاده م.م ګلیتسین د 1747م کال د اپرېل په 13 مه نېټه له رشت ایالت څخه ګزارش ورکړ چې: "د ایرانیانو د بې کچې خوارۍ له کبله نوموړي پاڅونونه هرځای خپاره شوي، چې وجه یې د شاه بېساري لوټونې او ستم دی، ټول ایران له حتمي زوال سره مخ دی، لکه څنګه چې خپله ایرانیان په یوه خوله او غوخ ډول وایي: په ایران کې یوازې خراسان ایالت تر نورو یوڅه هوسا دی، خو اوس هغه ځای هم له داسې وضعې سره مخامخ دی، چې یووخت یې د سیستان د پاڅون په بهیر کې ونه شول کولای د شاه پوځیانو ته ډوډۍ ورکړي؛ نور ولایتونه هم د پلازمېنې په ګډون له ورانۍ سره مخ دي، هغه کلي چې له روسیې هېواد څخه یې نیولي، لکه څنګه چې ما په خپل سفر کې ولیدل ټول وران شوي، یو سم کلی هم نه پیدا کېږي. ټول اوسېدونکي یې تښتېدلي دي� خو د سیستان په اړه ټول وایي چې خلك یې ډېر ځواکمن شوي دي، ځکه که هغوی دومره خطرناك نه وای، شاه به هم دومره کارونه شا ته نه غورځول. د شاه د ځواکونو په اړه هم په زغرده ویل کېږي، چې ډېر خلك یې تر پخوا ساړه شوي او له بېلابېلو وحشتونو څخه ستړي شوي دي او هر وخت پر تېښته لاس پوري کوي)."37(

د سیستان پاڅونونه په سیستان پورې محدود پاتې نه شول، کرمان ښار هم د خپلو کلیو په ګډون د سیستان په پلوې د 1746م کال په دوبۍ کې له اطاعت څخه سرغړونه وکړه او د روسي کونسل (باکونین) په وینا: "د هغه ځای مشران او فرمان ورکوونکي شاه ته نه ورځي او اعلان یې کړی چې شاه ته له خدمت کولو خوشحاله دي، خو د حساب لپاره به شاه ته ورنه شي.ځکه هرڅوك چې ورشي سترګې یې اېستل کېګږي او ړندوي یې�

دوی هم دا غوره ګڼي چې په کرمان کې پاتې شي، په عزت سره مړه شي، خو د شاه په دربار کې شکنجه، رانده یا خفه نه شي)."38(

د نادرشاه طبیب "بازین" په کرمان کې یو هرم ولید چې له پرې کړو سرونو جوړ شوی و، د (دولت نادرشاه افشار) لیکوالانو د هغه مهال یو رښتینی ګزارش نقل کړی: " د مارچ په څوارلسمه په کرمان کې دېرش تنه او په هغوی کې څلور خانان، درې سلطانه او یو چاوشباشي ووژل شول او دوولس تنه هم له سترګو محروم شول.

دا کار هره ورځ له استثناء پرته تکرارېږي. هغه پر هېڅا، هېڅ مقام آن خپلو پوځیانو هم رحم نه کوي، بلکې له ټولو سره همدغه چلند کوي، په کرمان کې د څلورو خښتو په اندازه د سپینږیرو له سرونو یو منار جوړ شوی، ځکه چې د سرونو وېښتان یې سپین دي� هره ورځ د خلکو سترګې ایستل کېږي او خلك وژل کېږي)."39(

په دې توګه نادر غوښتل د بېشمېرو وژنو او د پاڅون کوونکو په سیمو کې د سرونو د مناورونو په جوړولو، پر سلو برخو وېشل شوي هېواد کې چې له اقتصادي زوال سره هم مخامخ و، خپل حاکمیت وساتي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فیوډالي ستم پرضد د استثمار شویو کسانو مبارزې چې ځینې به د کروندګرو په څواکمنو پاڅونونو او ځینې به د ښار په نېستمنو کې منعکسېدلې، په رښتیا چې د نادر د فیوډالي استبداد له منځه وړلو ته د اصلي هڅو رښتینی لامل و.

د اتلسمې میلادي پېړۍ په پنځمه لسیزه کې د نادرشاه ټوله واکمني د فیوډالي بېلتونپالو او آزادیپالو د پاڅونونو او شورښونو په اور سوځېده، دا پاڅونونه په افغانستان، منځنۍ اسیا او ارمنستان پورې محدود نه وو. بلکې د ایران په ټولو ایالتونو لکه کرمان، فارس، اصفهان، شیراز، ګیلان، خوی او نورو کې د استبداد او د نادري سیاست ضد پاڅونونه چې د مالیاتي ستم پرخلاف او له کروندګرو د ناسمې ګټې اخیستنې له کبله وو، ورځ په ورځ زیاتېدل؛ اخر د خلکو پرله پسې سرغړونو اوپاڅونونو د نادر دولت له زوال او سقوط سره مخامخ کړ. څګرنګګه چې کله نادر د سیستان او خبوشان (قوچاق) د پاڅونونو د ځپلو لپاره روان و، نو خپل حرمسرای او خزانه یې کلات ته ولېږله او د قوچان په دوه فرسنګۍ فتح آباد کې یې پوځ تم کړ او شو ورځې یې زین کړی اس له ځان سره وساته، چې د تېښتې پر وخت ورڅخه کار واخلي، آن یو ځل یې کلات ته د تېښتې هڅه هم وکړه، خو یوې ډلې سرتېرو پرې نه ښود او ډاډ یې ورکړ چې د ژوند ترپایه به یې خدمت وکړي. سربېره پردې یې د ځان پرضد یوه توطیه کشف کړه، سبا ته یې تصمیم ونیو، توطیه کوونکیو ته چې له خپلو خپلوانو څخه یې وو سزا ورکړي، خو توطیه کوونکي هماغه شپه د نادر له هوډه خبر شول. نو د نادر خېمې ته ورننوتل اونادر یې وواژه(1747م کال د جون نهمه [د1160هـ. ق کال د جمادي الاخر 11 مه].(40)

د نادر په مړینې سره د هغه دولت هم ړنګ شو او پوځي مشران د نادر په هره پراخه سیمه او قلمرو کې حکومتونو ته ورسېدل.

د دریېم څپرکي سرچینې:

.1محمدکاظم: نامهٔ عالـم آرای نادري، دریېم ټوك، 226 � 233مخونه.

.2هماغه اثر : 234مخ.

.3. // 236مخ.

.4. // 237مخ.

.5. // 238مخ.

.6. // 240مخ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

242 // .7مخ.

244 // .8مخ.

245 // .9مخ.

246 // .10مخ.

292 // .11مخ.

204 // .12مخ.

208 // .13مخ.

// .14درېيم ټوك، 170- 172 مخونه.

// // .15هماغه مخ او 368 مخ.

// .16درېيم ټوك، 418 � 422 مخونه.

// .17درېيم ټوك،369 مخ.

485 //.19 � .18مخ. ميرزا مهديخان: جهانكشاى نادري، 425- 426 مخونه.

.20دولت نادرشاه افشار: 111- 292 مخونه.

.21لكهارت: نادرشاه، 315 � 316 مخونه.

.22دولت نادرشاه: 206 مخ. نامه عالـم آراى نادري: 488مخ.

.23دولت نادرشاه افشار:206 مخ.

.24لكهارت: نادرشاه، 316 مخ.

.25محمدكاظم: نامه عالـم آراى نادري، درېيم ټوك، 488 � 489 مخونه.

.26دولت نادرشاه افشار: 207 مخ.

.27محمدكاظم: درېيم ټوك، 489 مخ.

.28دولت نادرشاه افشار: 207 مخ. لكهارت: نادرشاه، 321 مخ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

.29لکهارت: نادرشاه، 321 مخ.

.30دولت نادرشاه افشار: 207 مخ.

.31محمدکاظم: نامه عالـم آرای نادري، دريېيم ټوك، 502 مخ. دولت نادرشاه افشار 166مخ.

.32لکهارت: نادرشاه، 322 � 323 مخونه.

.33دولت نادرشاه افشار: 216 مخ.

207 // .34مخ. لکهارت: 323 مخ.

.35لکهارت: نادرشاه، 323 مخ.

.36دولت نادرشاه افشار: 307 مخ. لکهارت: نادرشاه، 323 � 324 مخونه.

.37دولت نادرشاه افشار: 208 مخ.

.38هماغه اثر: 309 مخ.

209 // .39مخ.

.40لکهارت: نادرشاه، تر 355 مخ وروسته.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پایله (نتیجه)

د نادرشاه افشار دولت د یوه استبدادي فیوډالي نظام بېلګه وه، چې د شاه حاکمیت کومه پوله نه پېژنده.

نادرشاه افشار د هغو یرغلیزو جګړو په نتیجه کې چې د اتلسمې پېړۍ په څلورمو او پنځمو لسیزو کې یـې ترسره کړې، وکړای شول ارمنستان، ګرجستان، اذربایجان، خیوه، بخارا، افغانستان، منځنۍ اسیا، بلوچستان او د مغولي هند ټول شمال � لویدیز ولایتونه په خپل دولت پورې اړوند کړي.

ددې هېوادونو ځینې برخې د نادر د دولت پر ایالتونو بدلې شوې وې او پاتې هم د (واسالي) هېوادونو په توګه اداره کېـدې.

د نادرشاه دولت یو کمزوری نظامي فیوډالي اتحاد و، چې په هغه کې د اقتصادي ژوند ګډون خلك نه سره تړل، هغه خلك او هېوادونه چې د فرهنګي او تاریخي لرغونتوب له مخې یـې یو له بل سره توپیر درلود، په زوره یو په بل پورې تړل شوي وو، د یوه فیوډالي دولت په اډانه کې ددې بېلابېلو هېوادونو معنوي پیوند د پردي د توند ستم او بېرحمانه فیوډالي ګټې اخیستنې او خونړي ظلم لامل شوی و. دا هغه عمده ټکي وو چې په نیول شویو هېوادونو کې یـې د آزادۍ غوښتنې مبارزې پارولې؛ هغه مبارزې چې د نوموړو هېوادونو پر تولیدي ځواکونو یې ژور منفي اغېز ښانده او فرهنګي او اقتصادي تګلار یـې دروله.

په افغانانو، ازبکانو، ترکمنانو، بلوڅانو، ګرجیانو او ارامنه وو کې د آزادۍ غوښتنې لومړني پاڅونونه ډېر شول، ځکه دا خلك په ډېر ستونزمن حالت کې وو، د سیمه ییزو فیوډالانو له خوا استثمارېدل او د نادر دولت له خوا هم تر شکنجې او مذهبي پلټنو لاندې راتلل.

د نادر پرضد د ازادۍ غوښتنې لومړنی پاڅون په هرات کې د ذوالفقار خان ابدالي په مشرۍ په (1730 � 1731م/ 1143هـ کال) کې ترسره شو، وروسته ترکمنو، تکه وو، ساروقو، ایرسارو او نورو قومونو هم په 1734م کال په خراسان کې پاڅون وکړ، چې په همدې کال نور پاڅونونه هم وشول.

د 1740 م کال له پیله بېلابېلو پښتنو قومونو د کابل رود په سرچینو کې د نادر د استبدادونو پرضد د پاڅون جنډه هسکه کړه، سره له دې چې د نادر ډېرو پوځیانو دا قومونه په وینو ولړل، بیا یـې هم زموږ په خلکو کې د خپلواکۍ غوښتنې روحیه کمزورې نه کړه، هرځل به چې د هېواد په کوم ګوټ کې کوم پاڅون د توپ او خمپارو په زور د لنډ مهال لپاره کرارېده، بل پاڅون به په بله څنډه کې راولاړېده او څه موده به یـې دښمن ته د سر په کاسه کې اوبه ورکولې.

په 1742م کال د بلخ او اندخوی خلك هم د نادر د استبدادي واکمنۍ پرضد اوچت شول، تاریخ کښونکو د پاڅون کوونکو شمېر له پنځوسو تر شپېتو زرو تنو لیکلی دی. ددې پاڅون مشري د عصمت الله خان ازبك پر غاړه وه، د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نادر پوځونه که څه هم وتوانېدل د مجهزي توپخانې په واسطه پاځون غلی کړي او په جگړه کې عصمت الله خان ووژني، خو ډېره موده نه وه اوښتې چې په بلخ کې بل پاځون لمبې بلې کړې.(1745م کال).

د پاځون په مشرتابه کې د بلخ د والي ورور مشاق بېگ و، چې د بدخشان حاکم میرزانباتخان او خان ارال میرزاقل ازبك هم ورسره یو شوي وو. خو د نادر پوځونو د سیمه ییزو فیوډالانو په مرسته دا پاځون وځاپه.

د بلخ د پاځون د ماتې عمده علت د دښمن له خوا مشاق بېگ ته ژمنې ورکول او د بدخشان او خان آرال د پاځون کوونکو ترمنځ د وړ ارتباط نشت او د کندوز د فیوډالانو په تېره د بدخشان له فیوډالانو او آرال سره د هزاره خان ازبك مخالفت و.

د نادر پوځ ته د پاځون کوونکو د لوړ پوړ (قشر) تسلیمېدل: د پاځون ځېنه گرندۍ کوله، نادر به هم د پاځون کوونکو د لا ځپلو لپاره د پاځون تر ځپلو وروسته پر سیمو ډېر مالیات کښېښودل. لکه په 1746م کال چې یې د بلخ او اندخوی پر خلکو ډېر ملاماتوونکي مالیات وضعه کړل.

د نادري دربار د پېښگلیکوال محمدکاظم په وینا: "دوه سوه زره یې د (بلخ او جوزجان) پر اویماق قوم کښېښودلې". د بلخ او اندخوی اوسېدونکو خپل ټول مالونه خرڅ کړل او یو سل او اویا زره(د 650 زرو تبرېزي تومانو انډول) یې نادر ته وسپاره.

ځگرنگگه چې نور یې یو دینار هم نه درلود، چې د نادر دربار ته یې ولېږي، نو اړ شول چې لیریو غرونو ته وتښتي او ځان او خپل ماشومان د نادر د پوځیانو له شره خلاص کړي.

د مالیو د مامورینو سپکاوي او توند چلند په 1746 � 1747 م کلونو کې بیا هم د بلخ، اندخوی، بادغیس، هرات او سیستان د بېلابېلو قومونو د پاځون لامل شو، چې د نادر تر مړینې روان و.

لکه مخکې مو چې یادونه وکړه، د خلکو د پاځون عمده علت فیوډالي ناوړه گټه اخیستنې او د مالیاتو سخت فشار و، چې د نادر د واکمنو له خوا پر خلکو تپل کېدل.

خو له پاځونونو څخه د خلکو موخه د نادر د مالیاتي ستم لړوالی و، په داسې حال کې چې ځینو فیوډالانو د نادر له سیاسته د ناخوښۍ او د خپلې اقتصادي وضعې د ښه والي لپاره په دې پاځونونو کې گډون کاوه، ځگرنگگه چې په پاځون کې ددې دوو ډلو هدفونو سره توپیر درلود، نو د فیوډالانو لوړ قشر به، چې ډېر وخت به یې د پاځون مشري پر غاړه لرله، له پاځون کوونکو سره خیانت کاوه او له شاه یا به د هغه له استازو سره یو کېده.

لنډه دا چې د پاځونونو کمزورې ډلبندي د مشرانو سیمه ییز اوسېدل او د داسې مشرانو نشت چې په هڅاند ډول د خلکو پر گټه مبارزه وکړي، د پاځون کورنیو اختلافونو او د فیوډالانو خیانتونو ټولو یو د بل په مرسته مخکې له مخکې د هر پاځون برخلیك ټاکه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اتلسمې پېړۍ په پنځمه لسیزه کې فیوډالي ګټو اخیستنو او د نادرشاه د دولت د مالیاتي ستم پرضد پر له پسې پاڅونونو، نادر د سختې اقتصادي پاشلتیا کندې ته تېل واهه او د سختو طبقاتي او کورنیو تضادونو او د نادر د فیوډالي دولت د رانسکورېدو لامل شول.

Download from: ketabton.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library